وحشي زانې

د ماشومانو له پاره خوږې کیسې

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو له پاره داستاني سلسله

وحشي زانې

د ماشومانو له پاره خوږې کیسې

د کتاب پیژند ګلوي

د کتاب نوم: وحشي زانې (د ماشومانو له پاره خوږې کیسې)

لیکوال: د مطبوعاتو څخه ټولګه

رسام: نجیب الله مهرزاد

ناشر: CADA/ Op Mercy Afghanistan

د چاپ کال: ۱۳۸۶ هـ ش، ۲۰۰۷ میلادي

د چاپ ځای: د میوند خپرندویه ټولنه

د چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

د لوی او بخښونکي خدای په نامه

د کیسو فهرست

د کیسې نوم	پانه
په ټاپو کې مانې	۶
ناپوهه بیزو	۱۳
بې خطره لکه زهر	۱۹
ځان نیولی	۲۷
دوکه او حقیقت	۳۵
دوه بنکې	۴۱
بنکلې شاهزادګۍ	۴۷
سره زر او محبت	۵۳
د نور پربښته	۵۹
پک هلکی	۶۵
بې پروا بیزو	۷۰
د آدم چهرې ګل	۷۷
وحشي زانې	۸۱
د قاضي آس	۸۷
سورغاښی دیو	۹۳
ولې د ګیدړې لکۍ سپینه ده؟	۹۸

لومړۍ کیسه

په ټاپو کې مانۍ

و، نه و تر دې شنه آسمان لاندې یو کوچنی هیواد و چې مهربانه پاچا او ډیر ښه وګړي یې درلودل. خو له بده مرغه چې د دې هیواد پاچا بچیان نه درلودل. پاچا د خپل هیواد له وګړو وغوښتل چې هغه ته دې دعا وکړي. هغوی دومره دعا ګانې وکړې چې خدای د پاچا ته یوه ښکلې لور ورکړه. همدا چې پاچا خپله ښکلې لور ولیده دومره مینه یې ورسره پیدا شوه چې حریص شو او تصمیم یې ونیو چې خپله لور هیڅ واده نکړي.

پاچا خپل دا تصمیم له درباریانو او د هیواد له مشرانو سره

شریک کړ او ټول دې نتیجې ته ورسېدل چې د نجلۍ د نه ودولو له پاره هغه دې یو داسې ځای ته ولیږي چې له هیڅ نارینه سره اړیکې ونشي نیولای. وروسته بیا پاچا دستور ورکړ تر څو په یوې داسې ښکلي ټاپو کې چې څلور خواته یې اوبه وي یوه ستره زرینه مانۍ جوړه کړي چې هر څه په کې وي خو کړکۍ ونه لري. مانۍ له دستور سره سم جوړه شوه.

کله چې نجلۍ اووه کلنه شوه پاچا هغه د ډیرو ښو خدمتګارانو او یوې ډیرې هوښیارې ښوونکې سره مانۍ ته واستوله. ټاپو ته په بشپړه توګه د نارینه و تګ راتګ بند شو او شاه په مانۍ باندې د څارنې کار پر خپله غاړه واخیسته. یواځنی څوک چې کولی شو ټاپو ته ننوځي شي په خپله پاچا و چې د نجلۍ د لیدلو له پاره په اوونۍ کې یو ځل هلته ورته.

کلونه پدې توګه تیر شول او د پاچا لور لږ لږ په یوه لوړه او ښکلې ملکه واوښته چې د هغې زمانې له ټولو علومو څخه برخمنه وه او په ښکلا او علم کې یې ساری نه درلود.

د شاه په دستور نجلۍ ته داسې ښوول شوي و چې نړۍ یوازې له ښځو نه جوړه شوې ده او بس!

څرنګه چې ملکه هوښیاره نجلۍ وه یوه ورځ یې په ذهن



پاچا دستور ورکړ چې په یوه ښکلي ټاپو کې چې ګیر چاپیره
یې اوبه وي یوه ستره زرینه مانۍ جوړه کړي.

کې یوه پوښتنه پیدا شوه چې که دنیا یوازې له ښځونه جوړه شوې وي، نو پلار یې ولې د ښځو په شان نه دی او که چېرې پلار یې ښځه نه ده نو څه دی او له کومه راغلی دی؟

هغې چې هر څومره سوچ وکړ د دې ستونزې له پاره یې قانع کوونکی ځواب ونه موند او له ناچارۍ یې دا پوښتنه له خپلې هوښیارې ښوونکې سره شریکه کړه. ښوونکې کله چې دا ستونزه واوریده ډیره پریشانه شوه او ملکې ته یې خبرداری ورکړ چې که چېرې په دې مسألې باندې پلار یې پوه شي ټول به ووژني او دا به ښه وي چې داسې پوښتنې دې نور نکوي.

د ښوونکې خبرداری ملکه ډیره غمجنه کړه ولې ناهیلې نه شوه او تصمیم یې ونیوه چې له خپلو کتابونو څخه خپلې دې پوښتنې ته کوم ځواب وموميِ او څرنګه چې ټول کتابونه د شاه تر نظر لاندې مانۍ ته استول کېده، ملکې ونشو کړای چې د دې پوښتنې له پاره کوم ځواب وموميِ. سره له دې هم هغې خپلو هڅو ته ادامه ورکړه. بالاخره یوه ورځ یې د ښوونکې له سترګو څخه لیرې، له خمیرې نه د خپل پلار په شان خو کوچنۍ مجسمه جوړه کړه او د خدای نه یې وغوښتل چې په مجسمې کې دې سا ننباسي. هغې شپه او

ورځ دعا او زارۍ کولې ترڅو چې خدای د هغې دعا قبوله کړه او په مجسمه کې يې ساه ننويسته او هغه کوچنۍ مجسمه د خدای په قدرت په يو بشپړ نارينه بدل شو او د ملکې ټولو پوښتنو ته يې ځواب ورکړ.

ډير وخت نه و تير شوی چې ملکه او مجسمه يو په بل مينان شول. څرنګه چې دا ناممکنه وه چې يو نارينه دې د يوې اوږدې مودې له پاره په مانۍ کې پټ وساتل شي، نو ملکې د خپلې دعا او مجسمې کيسه په بشپړه توګه خپلې ښوونکې ته واوروله چې دې مسألې ښوونکې ډيره وارخطا کړه. هغوی تصميم ونيوه هر کله چې پاچا د ملکې ليدنې ته راځي، مجسمه ايزه نارينه به پټ کړي.

په خواشينۍ سره يوه شپه چې ټول ويده وو، پاچا يو ناڅاپه د خپلې لور د ليدلو له پاره مانۍ ته ورننوت او په ډيره حيرانتيا يې وکتل چې په مانۍ کې يو نارينه ليدل کيږي! هغه په بيړه دستور ورکړ چې د لور په شمول يې د مانۍ ټول کار کوونکي د هغه خيانت له امله چې کړي يې دي په دار وځړول شي.

ملکه په ګونډو شوه. په ژړا او ننواتو يې پيل وکړ او له پلاره څخه يې وغوښتل چې هغې ته د دفاع کولو حق

ورکړي. پاچا د خپلې لور له غوښتنې او ننواتې وروسته څرنګه چې هغه يې د زړه له کومې خوښيدله او همدا راز دا د هغه د لور لومړنۍ تيروتنه وه، هغې ته يې له ځانه د دفاع اجازه ورکړه.

ملکې د قاضيانو په مخکې د مانۍ په اړه او دا چې ولې د هغې ټولې اوسيدونکې ښځې وې، خبرې وکړې او وې ويل چې يواځنۍ څوک چې د ښځې په شان نه و هغه د هغې پلار و او کله چې هغې دا مسأله را منځ ته کړه هيڅ چا د دې معما د حل او د شرحې جرأت نه درلوده نو ځکه هغې مجسمه جوړه کړه او له خدای څخه يې وغوښتل چې په هغې کې ساه ننباسي او خدای هم د هغې دعا قبوله کړه. پاچا د خپلې لور د خبرو په اورېدو ډير حيران شو او کله چې يې قضيه په دقيقه توګه وڅېړله باوري شو چې د هيڅ کوم سړي پښه ټاپو ته نه ده ننوتې او پوه شو چې لور يې ريښتيا وايي.

د هغې ورځې په سبا پاچا د خپلو وګړو په وړاندې له خپل هغه جنايته څخه چې د خپلې لور په وړاندې يې کړی و يادونه وکړه او وې ويل: "ما سوچ کاوه چې د يو بشپړ سوکاله ژوند په جوړولو سره زه کولای شم تا له خپلې طبيعي غوښتنې څخه بې برخې کړم په داسې حال کې چې نه

پوهيدم چې په دې کار سره ما يوه لويه تېروتنه کړې ده. ما پدې کار سره غوښتل د خدای د قانون پرضد ګام پورته کړم او همدا ده چې خدای تاسره مرسته وکړه ترڅو مې خپلې تيروتنې ته پام شو.“

بيا يې دستور ورکړ چې هغه بې کړکيه مانۍ ورانه کړي او پر ځای يې يوه نوې مانۍ چې تر هغې ډيره ښکلي وي جوړه کړي او د خپلې لور د واده له پاره يې يوه شانداره ميله جوړه کړه. بيا يې له ځانه سره هوډ وکړ چې نور به هيڅکله د خدای د قوانينو پر ضد ګام نه پورته کوي.

دوهمه کیسه

ناپوهه بیزو

"نیاني" یوه داسې بیزو وه چې په ځنګله کې له خپلې کورنۍ سره اوسیده. د نیاني ځالې ته ځیرمه څو ټپوسانو هم ځاله جوړه کړې وه چې له بیزو ګانو سره یې کوم کار نه درلود.

ځرنګه چې نیاني یوه تجربه لرونکې او هوښیاره بیزو وه نو همیشه به یې خپلو اولادونو او دوستانوته نصیحت کاوه چې د ټپوسانو سره دوستي او ملګرتیا ونه کړي. ټولو بیزو ګانو له نیاني سره دوستي لرله او د هغې درناوی به یې کاوه او هم یې د هغې د تجربو څخه ګټه اخیسته.

د بيزوګانو په منځ کې (تيچي) چې د نياني دريم بچی و د کم عمر او د لږې تجربې لرونکی و ولې غالمغالي او کړتن و. هغه خپل ځان د کورنۍ له ټولو غړو څخه ډير هوښيار او پوه ګڼه او سوچ يې کاوه چې هغه په هر څه پوهيږي. کله چې يې پلار هغه د ټپوسانو سره له ناستې پاڅې نه منع کاوه تيچي په ښکاره د پلار نصيحت ومنه خو له ځان سره يې وويل: "ټپوس که څه هم د وګړو د عقيدې له مخې شوم دی، ولې هغه يو الوتونکی دی او د يوې کړيکې سره لکه چوغکې په شان تيښته کوي. سربيره پر دې له ټپوس غوندې يو الوتونکي سره دوستي ډيره روزونکې او خوندوره ده. هم به د الوتونکو د ژوندانه چلند زده کړم او هم به د هغوی د بربنډو خړ رنګي او نريو تيره پولادي نوکانو له ليدلو نه چې د ښکار په وخت کې خپل ښکار څيري، خوند واخلم. بې وزله پلار مې اوس زوړ شوی او اوتې بوتې وايي."

يوه ورځ له ټپوسانو نه يو د بيزوګانو ځای ته څيرمه په ځمکه کښيناست. تيچي چې د خپلې سوړې نه ټپوس ته کتل د هغه د راښکته کېدو او له هيبته نه ډک تک تر اغيزې لاندې راغی او چې ويې ليدو چې د چا پام نشته، له سوړې نه يې د ټپوس له پاره لږ خواړه وارتول. ټپوس چې کله خواړه

نياني به تل خپل بچيان او دوستان له ټپوسانو سره له ملګرتيا
او نږدې والي څخه منع کول.

وخواړه، تيچي په لوړ آواز چيغه کړه او ټپوس وتښتيد.

تيچي يو ځل بيا پر خپلې پوهې آفرين وويل او د خپل پلار پر ساده کې يې زړه وسوزيد.

د هغې ورځې په سبا هماغه ټپوس د يو بل ټپوس سره راغې او تيچي بيا هم هغو ته خواړه ورکړل. بله ورځ د ټپوسانو ډله دريوو او بيا پنځو او بالاخره اوو ته ورسيده.

تيچي په ناپوهې او د پلار او مور د اجازې پرته ټپوسان د خپلې کورنۍ د ژمنې خوړو له زيرمې څخه تغذيه کول او په ويره او حيرانتيا يې له کړکې نه د ټپوسانو خوراک ليده.

همدا شان يوه هوښياره زرافه له خپل ځايه د دې احمقانه کار نندارە کوله او د هغې له پايلې نه يې ويره درلوده. ځکه هغه پوهيده چې هغه څوک چې ټپوس ته خواړه ورکړي نو په خپله خپل ځانته خطر پيښوي.

هره ورځ د ټپوسانو شمير ډيريده او ټپوسانو به تيچي ته کرار کرار نږدې کېدل ترڅو چې نور نو تيچي له سوړي نه رابهر شو او ټپوسانو ته يې خواړه ورکاوه. يوه ورځ په ټکنده غرمه کې چې ډير څاروي تر غرمې وروسته په ژور خوب ويده وو تيچي يو واړې ولېد چې سلګونه ټپوسان د سوړي

خواته نږدې پر ځمکه کښيناستل. د ټپوسانو شمېر دومره ډير و چې تيچي ونه شو کولای ټول وشميري. ځينې د ونې په سر او ځينې هم تيچي د سوړي خولې ته ښکته شول. تيچي له معمول سره سم د خوړو په اچولو پيل وکړ. ولې په ډير هوښياری پوه شو چې د ټپوسانو شمير دومره ډير دی که ټول خواړه هم راوړي بيا به هم هغه لږ شي. له بلې خوا ټپوسان دومره سپين سترګي او بې باکه شوي و چې له يو ګامه هم په لږ واټن کې يې تيچي له ځلورو خواوو کلابند کړی وو. حتی کله چې تيچي چيغه کړه ټپوسان لکه چې هيڅ يې نه وي اوريدلي هماغسې د تيچي خوا ته ورنږدې کېدل.

تيچي د ټپوسانو په شا تمبولو له پاره له هغه لرګي څخه چې په لاس کې يې و کار واخيست. ويې غوښتل چې يو ټپوس ووهي ترڅو نور ورنه پند واخلي خو مخکې تر دې چې هغه وکولای شي کوم يو ټپوس ووهي په خپله شا کې يې يو درد احساس کړ، مخ يې راواړوه. پام يې شو چې يو ټپوس په خپل منبوکې د ملاتير يې ورته سوری کړی دی. غوښتل يې چې د هغه ناڅوانه ملګری ځواب ووايي چې د تخرګ لاندې بل درد يي د وار مجال ورنه کړ او ورپسې بل درد يې په ملا او بيا په نورو ځايونو احساس شو.

تیچي د وینې بهیدونکو منبوکو ډیر شمیر ولید چې په یو وخت کې د هغه د دردناک بدن خواته یرغل کړی دی او خپل ناپاکې منبوکې د هغه د وجود له غوښې نه ډکوي.

هغه ورځ د یو ناپوه بیزو زړه بوګنوونکي چیغه د ځنګل د څارویو خوب ګډوډ کړ او بیا په ځنګل کې یوه ژوره چوپیا حاکمه شوه. هغې ورځې په مازدیګر نیاني په داسې حال کې چې ډېر خواشینی او غمجن وٗ، د خپل ورک شوي زوی پسې له ځنګلوالو نه پوښتنه کوله چې چېرته یې ومومي ولې له زوی څخه یې پرته له ماتو هډوکو چې سوړي ته څېرمه پراته وو نور څه نه و پاتې.

دريمه کيسه

بې خطره لکه زهر

يو مار و چې (چموش) نومېدۀ. چموش مار به تل وېرې و. ځکني د هغه اوږد او چاغ بدن ټوله خيټه وه، ځکه چې هر څومره بۀ يې چې خوړل نه مړيده او پرله پسې به يې خپلې ښځې ته شکايت کاوه او ويل به يې: ”ښځې نه مې يادېږي چې کله مې پوره خواړه خوړلي وي. ولې ځان ته لږ څه زحمت نه ورکوې او ډېر خواړه نه پخوې؟“

ښځې به د عادت له مخې څه نه ويل او چوپه به وه، ولې يو ورځ بې حوصلې شوه او وې ويل: ”زما په پخلي کې کوم عيب نشته، بلکې عيب ستا په غټه خيټه کې دی، که چېرې

زما له پخلي نه راضي نه يې، تر دې وروسته دې پخپله ځان ته خواړه پخوه.“ چموش فش وواهه او وې ويل: ”زه پخپله هم په همدې سوچ کې وم. تردې وروسته ځم او څنګه چې مې خوښه وي او زړه مې غواړي، همغسې خپل خواړه ترلاسه کوم.“

ښځې يې وويل: ”لاړ شه، يوه ورځ به په يوه بلا واوړې. ستا پوهه ستا په خپله کې ده.“

چموش په ځواب کې وويل: ”ته دا خبره ماته کوې؟ زه ښۀ پوهيږم چې څه وکړم، په ټولو شيانو مې سوچ کړی دی.“ بيا په داسې حال کې چې تر شونډو لاندې غوريده د تودې خاورې له تل نه د ښکاري خالو کورته چې چرګانو يې د مار او مورۍ په ټوله سيمه کې شهرت درلود، په آرامۍ سره وغځيد. کله چې د خالو د کور د ديوال څنډې ته ورسيد نو د چرګې د کوټې کوړې غږ يې واورېد چې د هګۍ اچولو په حالت کې وه. مار ورو ورو پرته له دې چې د چا ورته پام شي د هغه ځای په خټينه سوړه کې پريوت او ويې ليدل چې ليرې د غلې د کندو د پاسه يوه تازه هګۍ پرته ده. په کراره وغځيدو او ورو ورو يې هګۍ ته ځان ورساوه او هغه يې له خپلې ستونې تيره کړه. سترګې يې له خوشالۍ څخه پرقيدې

او یو غیر طبیعي پړسوب یې په خپل ستوني کې احساس کړ. هغه وخت بې له شورماشوره ورو ورو ببرته دیوال د سوړي طرف ته وغځدو. خو د هغه د ستونې پړسوب د هغه د تبرېدو خنډ شو. له دې کبله یې ځان په کرار کرار د دیوال په یوې خښتې کې وواهه او د هڅې پوټکی یې مات کړ. د ستوني پړسوب یې کښېناست او په خپله خیټه کې یې یوه خوندوره تودوخه احساس کړه. بیا یې په خوښۍ او مسکا کورته مخ کړه.

ښځې یې پوښتنه وکړه: "چېرته وې؟ څه دې کول؟ مالومه ده چې کوم ښه کار دې له لاسه نه دی شوی." خو چموش خپله لکۍ په قار سره د باندې وایسته او وې ویل: "زه پخپله خپل اصول او چلند لرم." دا یې وویل او له ځانه تاو شو او په دروند خوب ویده شو.

بله ورځ کله چې د چرګې د کوړت کوړت غږ د چموش غوږونو ته ورسید هغه یو ځل بیا له خپل سوري نه راووت او د دیوال له لارې په هڅې پسې لاړ. وروسته بیا په مړه خیټه او خوشاله زړه بیرته کورته راستون شو.

کله چې یې ښځې ولید ورته یې وویل: "پام کوه! تا خطرناکه لار نیولې ده. دا کار چې ته کوې یوه ورځ به دې

په کومه بلا واړوي.“ چموش ځواب ورنه کړ. یوازې چېغه یې کړه سترګې یې پټې کړې او ویده شو.

پدې توګه هره ورځ کله چې چموش د چرګې د کوړت کوړت غږ اوریده، له خپل غار نه راووت او د دیوال له لارې به ته او خپله خیټه به یې په هګۍ باندې مړه کړه او بیرته به راستون شو. له ځان سره به خندیده او ویل به یې: ”پدې کار کې هیڅ خطر نشته. هغه احمقه چرګه هګۍ اچوي او بیا ماته د خوړلو له پاره غږ کوي.“

خو هغه له دې نه بې خبره و چې یوه ورځ د چرګې څښتن یعنی د خالو زوی ځان د غلې د کندو شاته پټ کړ ترڅو ووینې چې ولې یې چرګه کوړت کوړت کوي خو هګۍ نه اچوي. هغه پرته له دې نه چې چموش خبر شي د هغه د غلا کار او حرکتونه په ځیر سره ولیدل او ټوله ورځ یې د هګۍ د غلا په اړه فکر وکړ. بله ورځ سهار وختي د خالو زوی یوه خامه هګۍ واخیسته او په خوټېدلو اوبو کې یې ښه وخوټوله. هګۍ په کافي اندازه کلکه شوې وه. وروسته تر دې چې د چرګې غږ په ټاکلي وخت پورته شو، د خالو زوی خامه هګۍ واخیسته او پرځای یې خوټېدلې هګۍ کېښوده او پخپله د بیل له لاستي سره په یوه ګوښه ځای کې پټ شو.

څنګه چې د چرګې د کوړت کوړت غږ د چموش غوږ ته ورسید، له عادت سره سم له خپل سوري نه بهر شو او د خالو د کور خواته روان شو. کله چې هغه لاړ نو ښځې یې خپلو بچیانو ته نصیحت وکړ او وې ویل: ”خپل خیټو پلار ووینئ چې څه احمقانه او خطرناکه لار یې خپله کړې ده. پوهیږم چې دا کار ښه پای نلري.“ چموش له خپل سوري نه بهر شو او پداسې حال کې چې د هغه ټول سوچ او حواس د پستې او تودې هګۍ خواته و چې ډیر ژر به یې خیټه ور ډکه کړي نو د خپلې ښځې په ساده ګۍ یې وخندل.

هغه یوازې د خوندورې هګۍ په سوچ کې و او حرص یې سترګې ور ړندې کړې وې. هغه پرته له دې چې خپل شاوخوا ته وګوري، نېغ د چرګې په لور ورغی. که چېرې هغه ډېر لږ پام کړی وای کولای یې شول چې د خالو د زوی سیوری وګوري چې د کندو تر شا پټ شوی و. خو چموش کومه ویره نه درلوده، ځکه چې ګومان یې کاوه چې د چا پام ورته نشته، کله یې چې توده هګۍ تیره کړه له ځان سره یې وخندل او وې ویل: ”ناپوهه چرګه احمق خالو او ناپوهه ښځه زما له هوښیارۍ نه بې خبره دي.“ نو د پخوا په شان د دیوال غار ته ستون شو. څرنګه چې هغه هګۍ د نورو وړاندې

PROPERTY OF ACKU 16192

چموش به تل له ځانه سره ویل: ”ناپوهه چرګه احمق خالو او ناپوهه ښځه زما له هوښیارۍ نه بې خبره دي.“

د هګیو نه توده وه لږ څه حیران شو، خو سوچ یې وکړ چې ښایي د لمر وړانګو توده کړې وي. بیا ورو د دیوال د سوري په لور وغځید. کله چې یې په خپل ستوني کې د هګۍ پرسوب احساس کړ هغه یې ورو په کلک دیوال وواهه. په دې تمه و چې خپله به یې د هګۍ له تود اوبلن (مایع) نه ډکه شي، ولې هغه ورځ د هګۍ پوټکی ډیر کلک و. په ډیر قوت یې پرسوب په دیوال وواهه، بیا هم هګۍ ماته نشوه، څو ځلي یې هڅه وکړه او هغه یې په دیوال وواهه، خو د هغې په ماتولو بریالی نه شو. په ډبر لیونتوب سره یې ځان اخوا دیخوا وواهه چې هګۍ ماته شي او ځان له دې دام نه خلاص کړي، ولې هغه هڅه بې ځایه وه او هغه خوټېدلې هګۍ له ځایه ونه خوځیده.

پدې وخت کې د خالو زوی د بیل لاستي سره د کندو له شانه بهر شو او ویې ویل:"د هغه دارو تیرول چې ستا د غلا عادت دوا کړي درته ډیره ګرانه ده!" بیا یې وخندل. لږ ګې یې پورته کړ او هغه یې په زور سره د مار په ککره وواهه. د هماغې ورځې په مابنام د چموش بڼځه او بچیانو ولیدل چې د کوڅې سپي د هغه جسد په خوله کې نیولی او وړي یې. د چموش بڼځه خپلو ماشومانو ته وویل: "پام کوئ چې د پلار

په لار ګام کښږدئ. هغه عادت درلود چې په خپل سر کار وکړي او د نورو نصیحت ته يې غوږ نه نیوه. اوس وینئ چې د هغه عمر په څه رسوایۍ او خواري پای ته ورسید.“

څلورمه کيسه

ځان نيولی

ويل شوي دي چې په تيرو زمانو کې يو حاکم و چې د اوږدو کلونو له پاره د يو زوی د لرلو ارماني و خو نه بريالی کېدو. بالاخره پداسې حال کې چې يې سوچ کاوه چې هيڅکله به کوم وارث ونلري، د ښځې يې يو زوی پيدا شو. د دې ماشوم په زيږيدو حاکم له خوښۍ نه په جامو کې نه ځائيده. د خوشالۍ جشن ونيول شو. غوايان او پسونه قرباني شول او ډيرو کسانو پدې ميلمستيا کې ګډون وکړ د سوغاتونو او مبارکيو سيلاب له نږدې او ليرې ځايونو نه په بهيدو شو.

ډيره موده تيره شوه او ماشوم لوی شو. پلار يې ورسره د ليونتوب تر حده پورې مينه درلودله او پرې ګران و. خو د هغه د روزلو او تعليم په اړه يې چندانې پاملرنه ونکړه.

کله چې ماشوم څلور کلنۍ ته ورسيد حاکم خپل يو باوري نوکر ته سپارښت وکړ چې د د هغه د ساعتېرۍ له پاره يو ماشوم ومومي چه همزولی يې وي. ظالم نوکر تر يوې مودې وروسته يو بې وزلی او مظلوم ماشوم له يوې ليرې پرتې سيمې څخه خوښ کړ او په زور يې هغه د خپلې کورنۍ له تودې غيږې نه بيل کړ او د حاکم کورته يې راوست. هلته د دغه معصوم او فقير ماشوم له پاره ژوند ټول سرترسره رنځ او ذلت و. هر کله چې د حاکم زوی بې لارې کوله، د هغه پر ځای به همدا بې وزلې او مظلوم ماشوم وهل خوړل. د دربار نوکرانو به هغه د حاکم او وارث حضور ته را کشاوه او د سختو متروکو لاندې به يې نيولی و او تر هغې پورې به يې وهه او ټکاوه چې خوارکی به بيهوشه شو او پر زمکې به پرېووت.

د مياشتو او کلونو په تيريدو سره دواړه ماشومان لويان شول او د ځوانۍ سن ته ورسيدل. د حاکم زوی په يو مغروره او ځان غوښتونکي ځوان بدل شو. د حاکم په دربار کې

داسې آوازه خوره وه چې هلک په واقعیت کې پر خپل پلار حاکمیت لري دا ځکه چې په هماغه کم عمر کې به خپل هدف او مقصد ته رسیده. خلکو به له هغې ورځې څخه وېریدل چې دی د هغې علاقې حاکم شي او د هغو برخلیک د هغه په واک کې شي. د نورو رنځ او درد د حاکم زوی ته خوښي او آرامي بخښله او د بې ګناهو خلکو او مظلومانو له زورولو څخه یې خوند اخیست.

په داسې حال کې چې د هغه بل بې وزلي هلکي څخه یو غښتلی، نجیب او آرام ځوان جوړ شو. هغه قوي او ښکلی اندام، جذابه او په زړه پورې څیره، مهربانه شخصیت او پوخ او لوړ نظر درلود او د نورو اړتیاوې یې له خپلو ګټو څخه لوړې ګڼلې. کله چه د حاکم زوی د ځوانۍ سن ته ورسید پلار یې نور نو هغه بې وزلي هلک ته کومه اړتیا نه درلوده، نو له دې کبله یې هغه بدمرغه هلک بیرته خپل کور او ټاټوبي ته واستوه. هلته په ډیره لږه موده کې دغه بې وزلی هلک د ټولو خلکو د منلو وړ وګرځید او په هغو ډېر ګران شو.

که چېرې به څوک له کومې ستونزې او یا سختۍ سره مخامخ کېده، نو دغه هلک به یې پوښتنه کوله او د هغه لاس نیوی به یې کاوه او ډاډ به یې ورکاوه. پرته له کومې اجورې

به يې د محتاجانو او فقيروانو مرسته کوله. خلکو به هغه تل ليده چې د بې وسو کليوالو په کروندې کې له سهار نه تر مابنامه پورې کار کوي او د هغو سره مرسته کوي.

خو کاله وروسته حاکم مړ شو. د هغه زوی د هغه پر ځای کښيناست. په ډيره لږه موده کې د نوي حاکم ظلم او ستم دې سرحد ته ورسيد چې ټولو خلکو به په ويره کې ژوند کاوه. د هغه سپاهيانو به هم په شاوخوا خلکو باندې ظلمونه کول او په ناسمو او وحشيانه کارونو به اخته وو. له هر کلي نه به چې تيريدل د خلکو نه به يې په زوره خواړه او نور شيان اخيستل. او که چېرې چا اعتراض کاوه کور به يې د خاورو سره برابر او ژوند به يې لوټ شو.

د نوي حاکم ناولی قدم يوه ورځ د بې وزلي هلک کلي ته هم ورسيد. هغه اوريدلي و چه په دې کلي کې ډير ښه اسونه روزل کيږي او هغه هم د اسونو ډير ليوال و. حاکم کلي ته وردننه شو او له خلکو نه يې غوښتنه وکړه چې خپل ټول اسونه او کچرې راوباسي او هغه ته يې وړاندې کړي. خلکو خپل ټول ځاروي راوستل خو د هغو ځاروي د حاکم پام ځانه ته وانه ړاوه. حاکم داسې ګومان وکړ چې هغوی خپل ښه اسونه له هغه نه پټ کړي دي. نو هغه وويل: ”دا کليوال ډير

خسیس او بدمرغه خلک دي او همیشه خپل ښه شیان له ما څخه پټوي. که چېرې زما کسان لاس په کار شي هغه وخت به دوی ماته ننواتې وکړي چې د هغو ټول څاروي واخلم او لاړ شم.“ بیا هغه د خپل اس پر زین تکیه وکړه او کور په کور یې لټون پیل کړ. کله چې یې څه ونه موندل نو سر ټیټی او شرمنده شو او په ډیر بې رحمۍ یې امر وکړ چې کلی لوټ او تالا کړي او کورونو ته دې اور واچوي.

د هغه کسان کور په کور او دکان په دکان د خلکو مال او شتمني لوټ کړه او بیا یې اور ورته واچاوه. د څو شېبو په ترڅ کې کلی د اور په لمبو کې ډوب شو. خلک ډار شوي وو او هڅه یې کوله چه خپل ماشومان او څاروي چې په اور کې یې لاس او پښې وهلې وژغوري. ښځو چیغې وهلې، ماشومانو ژړل، او څارویو به رمبړي وهلې. یو ډېر غمجن او زړه بوګنوونکی حالت په خلکو راغلی و. حاکم په خوشالۍ او خندا سره د دې دردوونکې صحنې او د خپلو سپاهیانو د وحشیانه کارونو ننداره کوله.

د دې لمبو او لوګیو په منځ کې د حاکم پام هغه بې وزلي هلک ته واوښت چې یو وختې ورسره یوځای په مانۍ کې اوسېده او ګوري چې د اوبو سطل یې په لاس کې دی او د

خطر په قبولولو سره خلک له اور نه ژغوري.

حاکم په حیرانتیا چیغه کړه: ”واه! واه زمونږ سترګې دې روښانې! وګورئ چې ډبوونکی خر په خپلو پښو راغلی دی!“ (ډبوونکی خر) هغه لقب و چې پخپله حاکم هغه مظلوم هلک ته ورکړی و. د حاکم سپاهیانو هغه په راکښلو راکښلو د ظالم او خون خواره حاکم مخې ته راوست. حاکم چې غوښتل د خپلې خوښۍ او شوخۍ له پاره له هرې شیبې نه ګټه واخلي هغه ته یې وویل: ”ښه ښه، دا نو ستا کلی او کور دی؟ څنګه چې تا ما ته د سورلۍ له پاره کوم اس رانه کړ ته پخپله زما کچر شه!“

په دې وخت د حاکم کسانو په خندا او ملنډو سره د مظلوم ځوان پر اوږو کته واچوله او خولې ته یې هم قبضه ور واچوله. بیا حاکم د هغه پر شا سپور شو او خپله قمچینه یې پورته کړه او د هغه پر مخ یې ووهله او په ملنډو یې ورته چوچو وویل او پرې چیغه یې کړه: ”ډبوونکی خره، ماته اس سواري راکړه!“ مظلوم ځوان وویل: ”ډیره ښه ده. اوس خپل ځان د داسې یوې اس سوارۍ له پاره ټینګ کړه چې خلک له هغې نه افسانې جوړې کړي.“

بیا یې د حاکم دوه پښې ټینګې کړې او د اور د لمبو په



مظلوم هلکي د حاکم دوه پښې ټینګې کړې او د اور د لمبو په طرف یې وځغاستل.

طرف يې وځغاستل. سپاهيانو پا حيرانتيا سره په خپلو سترګو وليدل چې حاکم چغې وهلې خو د هغه چغې بې غايه وې. هغه ونشو کولای چې خپل ځان د مظلوم هلک له اوسپنيزو منګلو څخه وژغوري. شيبه تيره نه وه چې دواړه د اور په لمبو کې خاورې ايرې شول.

د حاکم په مرګ سره د هغه ټول سپاهيان په تبښته شول. ډير ژر د بې وزلي ځوان د زړورتيا داستان د سيمې شا او خوا ته خپور شو او بالاخره د پاچا غوږ ته ورسيد. پاچا د خپرنې له پاره يو کس هلته واستاوه. بالاخره د حاکم کورنۍ د شاه د قار وړ وګرځيده. د هغه ډير کسان زندان ته واستول شول او يو نوی عادل او نيک عمله حاکم هلته وګمارل شو. په عين حال کې د مظلوم ځوان داستان د يوې لرغونې کيسې په توګه د خلکو تر منځ خپور شو. د کلونو په تيريدو سره، داستان ليکونکيو نسل په نسل او سينه په سينه له دې زړور او غښتلي میړه نقلونه کول چې د ابليس له شره يې د خپلو خلکو او کلي د ژغورلو له پاره يې شيطان پر خپلو اوږو واخيست او له خپل ځان سره يې يوځای د اور لمبو ته ګوزار کړ.

پنځمه کیسه

دوکه او حقیقت

په ډیرو پخوانیو زمانو کې یو بډای او نیک عمله سړی و چې د خپل ښار وګړو ته له ډوډۍ ورکولو او د هغوی له خوشاله ساتلو نه یې خوند اخیسته. بډای سړي د خپل ځان او د کلیوالو د خوشاله ساتلو له پاره هر هغه چاته چې کولای شول یو په زړه پورې او بې ساري نندارہ ښکاره کړي جایزه ورکوله. دغه ارزښتناکه جایزې او پرتمین جشنونه به د دې لامل شول چې د لر او بر څخه ډیر نامتو هنرمندان د خپل هنر د نندارې له پاره هلته سره راټول شي ترڅو دغه قیمتي جایزې او په څنګ کې یې نوم او شهرت ترلاسه کړي.

يوه ورځ بډای سړي احساس کړ چې دا ټولې نندارې، ټوکې ټکالې او چشم بندیانې تکراري شوي دي. د دې له پاره چې د دې جشنونو شهرت خوندي وساتي د نویو هنرمندانو په لټه کې شو. هغه اعلان وکړ چې ډیره ارزښناکه ډالۍ به هغه چاته ورکړي چې وکولای شي هغه ډیر زیات حیران او خوشاله کړي او یوه داسې نندارہ وښیي چې هیڅا تر اوسه پورې نه وي لیدلې.

کله چې د وعدې ورځ راورسیده، د ښار مرکز له نندارچیانو او هنرمندانو نه ډک و چې د هیواد له ګوټ ګوټ نه د دې ارزښتناکې جایزې د تر لاسه کولو له پاره سره راټول شوي وو، مداریان، کوډګر، کیسه کوونکي، ټوکمار او نور ټول هنرمندان پر هغه غولي سره راټول شول چې بډای سړي د ښار په مرکز کې چمتو کړی و. که څه هم چې ټولې نندارې په زړه پورې وې، خو بډای سړي دا ټولې پخوا لیدلې وې. پدې ګڼه ګوڼه کې نابېره یو ټوغ او لنډې سړي چې پراخې جامې یې اغوستې وې د صحنې مخ ته راغلو او په ټولو یې د چپ شئ غږ وکړ. نابېره ټول خلک بې حرکته او چوپ شول. چوپتیا داسې حکم کاوه چې د شمال په وړاندې د پانې آواز هم په اسانۍ سره اوریدل کېده. په داسې یو

حالت کې سړي خپل سر راتیټ کړ او خپل ګریوان ته یې ورننه ویست او د بلبل آواز یې راوویست.

د بلبل د آواز پېښه دومره زبردسته او په زړه پورې وه چې نندارچیانو ګومان وکړ چې دغه سړي هرومرو کوم بلبل د خپل کمیس لاندې پټ کړی دی. بډای سړي چې نه شو کولای له خپلې حیرانتیا نه انکار وکړي له خپلو نوکرانو نه یې وغوښتل چې د هغه جامې وپلټي. خو هغوی د بلبل کومه نښه او نښانه ونه موندله. کله چې راټول شوي خلک پدې راز پوه شول بې واکه یې د لاس په پرکولو پیل وکړ، د نندارې ځای یې له پیسو نه ډک کړ.

خو د نندارچیانو په منځ کې یو سیلانی سوداګر هم حاضر و چې له یو ډیر لېرې کلي نه هلته راغلی و. کله چې نندارچیان آرام شول هغه راپاځیده او چېغه یې کړه: ”دا ټول شورماشور د څه له پاره دی؟ سبا ته دلته راشئ زه به تاسې او هغه ته داسې یوه ننداره وښیم چې په ژوند کې مو نه وي لیدلې.“ بله ورځ بیا ګڼ شمیر خلک سره راټول شوي و. د تیرې شپې په ترڅ کې پروني هنرمند یعنې تقلید کوونکي سړي، په سلهاوو پلویان موندلي و چې هغوی همدا ټینګار کاوه چې دی تر ټولو ښه او تکړه هنرمند دی او دغه کلیوال

سړی یوازې یو مزاحم دی چې غواړي د هغه شهرت زیانمن کړي.

په هر حال هغوی دواړه په داسې حال کې چې ارتې او ځړیدلې جامې یې اغوستې وې د صحنې پر مخ حاظر شول. لومړی هماغه د تبرې ورځې تقلیدکوونکی هنرمند د خپل هنر په نندارە پیل وکړ او یو ځل بیا یې د خلکو له خواه تود هرکلی وشو او هر چا ورته شاباسی وویل. وروسته بیا هغۀ هغه کلیوال سړي ته چې هلته لږې آرام ولاړ و، وکتل او ورته موسکی شو. ټول ډاډه و چې هغه به ماتې وخوري.

کله چې کلیوال سړي ته وار ورسید، هغه هم خلکو ته بلنه ورکړه چې غلي شي او د هغه نندارې ته پام وکړي. وروسته یې بیا خپله ککره په خپل ګریوان کې وردننه کړه او هغه هم د بلبل ښکلی آواز را بهر کړ.

که څه هم چې کلیوال سړی په خپل هنر کې ډیر بریالی و خو د تقلید کوونکي هنرمند محبوبیت دومره زیات و چې نندارچیانو د کلیوال سړي هنرمندي ونه منله او په هغه یې ملنډې ووهلې. هغوی د هغه نمایش ډیر وران او بیځایه وباله. ټولو چیغه کړه: "دا غږ د کارغه غږ ته ډیر ورته و نه بلبل ته" او له بډای سړي نه یې وغوښتل چې جایزه دې لومړني سړي

کیلوال سړی په ډېرې هوښیارتیا سره هغه کوچنی قفس چې لنډې سړې خپل کمیس لاندې پټ کړی و، راوباسي.

ته ورکړي. کليوال سړي په سړه سينه د نندارچيانو ټول سپکاوی وزغمه.

بډای سړی د صحنې مخې ته راغی تر څو خپله قيمتي جايزه ګټونکي ته ورکړي، کليوال سړي په ډير مهارت سره يو کوچنی قفس چې لومړنی سړي تر خپل کميس لاندې پټه کړې وه راوايسته او پدې وخت کې زنداني بلبل يو ځل بيا په آواز ويلو پيل وکړ.

کليوال سړي ترخه چيغه کړه، ”تاسې عجب عادل قاضيان ياست! دا تاسې چې چل ته د ريښتيا او مصنوعي ته د اصل پر سترګه ګورئ! که ستاسې ټول قضاوتونه همداسې عادلانه وي، افسوس د وي په تاسو باندې! آيا دا پخوانی متل مو هير کړی دی چې وايي: (له کوڼ نه ډير کوڼ هغه دی چې د اوريدلو هيله ونه لري!)“

شپږمه کیسه

دوه بنکي

سهار وختي کله چې لمر وخوت یو مسافر خپل کلی پربښود او په یو اوږد سفر رهي شو. په هماغه ورځ ناوخته هغه یو بل کلي ته ورسید او له دې کبله چې د خوراک او خوب له پاره یې پیسې نه درلودې، د ډوډۍ او ځای په لټه کې شو. هغه د یوه غریبانه کوچني او ساده کور له مخې چې د کلي په یوه څنډه کې پروت و تیر شو. کور تر دې حده کوچنی و چې مسافر په داسې حال کې چې د هغه له مخ نه تیریده سوچ یې وکړ چې د دې کور اوسیدونکي به دومره غریب وي چې په خپله به په سختۍ سره هلته ژوند وکړي او

یو مسافر ته د ځای ورکولو امکان خو به هیڅ صورت نه وي. هغه د یوه غټ کور په سوچ کې شو چې ده ته د شپې د تېرولو له پاره ځای ورکړي. بیا د یو څه واټن وروسته د نوموړي مسافر پام یو لوی کور ته واووښت. دا کور د کلي د یو ډیر شتمن کس و. مسافر په ډیر امیدواری سره د کور ور وټکاوه. په لومړي سر کې چا ځواب ورنه کړ او یوه شیبه وروسته کوم چا په یوه قهرجن آواز سره پوښتنه وکړه: "دا څوک دی چې زمونږ د کور ور په دې ناوختی کې ټکوي؟" مسافر په نرمۍ سره ځواب ورکړ: "یو داسې مسافر چې پیسې نلري او غواړي چې ستاسو د نغري تر څنګ په یوې څنډې کې د یوې شپې له پاره استراحت وکړي." بڼځې په ډېر قار اوغوسې سره ځواب ورکړ: "مونږ د ګدایانو له پاره ځای نه لرو. ځه ورک شه، که نه نو سپی به درپسې خوشې کړم."

لمر د ډوبېدو په حال کې و. مسافر بیرته هماغه غریبانه کور ته چې د کلي په څنډه کې و راستون شو. یوې بڼځې ور خلاص کړ. مسافر وویل: "زه یو مسافر یم. پیسې نلرم او غواړم چې ستاسو د نغري تر څنګ خپله شپه تېره کړم."

بڼځې او میړه ژر تر ژره هغه ته د کور دننه وتلو بلنه ورکړه او هغه یې مبلمه کړ. هغه یې پر خپل دسترخوان

کښيناوه او خپل فقيرانه خواړه يې په ورين تندي په دسترخوان کښودل. د ويده کيدو په وخت کې يې خپله بستره ورته ورکړه او پرې يې نه ښود چې د هغوی ميلمه د وښو پر سر ويده شي. پخپله ښځه او ميړه نغري ته نږدې د وښو پر سر ويده شول. سهار چې کله مسافر له خوبه ويښ شو نو له دې کبله چې هغه د خوړو او بسترې د کرايې د ورکولو پيسې نه درلودې، غوښتل يې چې خپله ګوته هغوی ته ورکړي. ولې ښځې د هغې د اخيستلو څخه ډډه وکړه او وې ويل: "ميلمه د خدای دوست دی، موږ ته پدې کار سره خجالت مه راکوه!" مسافر په بدل کې له خپلې خولې نه يو بنکه وايسته ښځې ته يې ورکړه او ورته يې وويل: "دا بنکه به تا ته په هغه کار کې چې نن پرې پيل کوې بريالیتوب راولي." ښځې په پوره ډاډ سره بنکه واخيسته. له قضا نه په هغې ورځ د ښځې لومړنی کار د هغو ټوکرانو ګز کول وو چې تيره ورځ يې اوبدلي وو. ښځې په حيرانتيا وليده چې ټوکران ډير زيات شوي دي. په حقيقت کې ټوکران دومره زيات شوي وو چې پوره درې ورځو کې د هغې له ګزولو خلاصه شوه. دا ټوکران له بسې چې زيات وو د ټولې کورنۍ د يو کلن پوښاک له پاره بس وو. ډير ژر ټول کلی د کورنۍ

مسافر يوه بڼکه ښځې ته ورکړه او وې ويل: ”دا بڼکه به په هغه کار کې چې نن پرې پيل کوې بريالیتوب راولي.“

له دې نیکمرغۍ نه خبر شو. بډای ګاونډی چې مسافر یې له خپلې دروازې څخه شړلی و ډیر خواشینی شو.

دوه کاله وروسته یو ځل بیا د همدې مسافر پېښه همدې کلي ته وشوه. هغه بیا د کلي لوی کور ته لاړ او د شپې تیرولو له پاره یې ترې د ځای غوښتنه وکړه. هغې ښځې دا ځل مسافر ته په ورین تندي ښه راغلاست ووایه. ډیر ښه خواړه یې ورته چمتو کړل او د استراحت له پاره یې ډیره ښه بستره ورته تیاره کړه.

د هغې ورځې په سبا مسافر وغوښتل چې د ټولو مهربانیو په بدل کې خپله ګوته ورته ورکړي ولې ښځې د هغه د ګوتې له اخیستلو نه ډډه وکړه او له مسافر نه یې وغوښتل چې له خپلې خولې نه یوه بنکه ورته ورکړي. مسافر ښځې ته بنکه ورکړه او ورته یې وویل: "که چېرې د کوم خیر نیت ولرئ ستاسو په درد خوري." حریصې ښځې د بنکې تر اخیستو وروسته حتی د مسافر سره مخه ښه هم ونه کړه.

هغه خپلې کوټې ته لاړه او د سرو زرو د سکو غوټه یې چې له پخوا نه د شمیرلو له پاره چمتو کړې وه واخیسته. خو مخکې تر دې چې په شمیرلو یې پیل وکړي، پزې یې خارښ وکړ او ښځه وپرنجیده. د ښځې پرنجیدل درې ورځې پرله

پسې دوام درلود او هغه د هيڅ کوم کار په سرته رسولو قادره نه شوه. درې ورځې پس د بڼکې طلسم خلاص شو او پر يوه عادي بڼکه واوښته.

اوومه کیسه

بنکلي شاهزادګی

و، نه و، پرته له خدایه بل هیڅوک نه و. خدای یو داسې بنار پیدا کړ چې د جنت غوندې بنایسته و او وګړي یې ډیر بنکلي او مهربانه وو. د هغه ځای پاچا هم یو بنه او مهربانه سړی و. هغه د پري په نوم یوه لور درلوده چې د پري په شان بنکلې هم وه. هغې تر ګل نازک صورت، تر نرګس بنکلې سترګې، له ګلابونه بنایسته مخ، لکه د سروې په شان رسا ونه، د لاله د ګل په شان سرې شونډې، لکه د سروزرو د درمند په شان ویښتان درلودل چې پري ته یې داسې بنکلا او جذابیت بخښلی وو چې هر چا به هغه لیدله، یو زړه نه په سلوزړونو به

پر هغې مينيده. خو پري چې پوهيدله په نړۍ کې تر هغې پورته بله ښکلې نشته نو پر خپلې ښکلا ډيره مغروره وه. که شپه کېدله سپورمۍ ته به يې پيغور ورکاوه او که چېرې به ورځ شوه لمر ته به يې د خپل حس او سينګار پيغور ورکاوه. د خپل پلار له رعيت سره به يې په ملنډو او پيغور سره خبرې کولې او هغو ته به يې تل په سپکه سترګه ليدل.

پري دستور ورکړی و چې هغې ته دې له هينداري څخه يوه مانۍ جوړه کړي. هغه به هيڅکله له خپلې دې مانۍ څخه بهر نه راوتله او هر کله چې به يې کومې هينداري ته کتل پر خپل حسن او ښکلا به يې آفرين ويل. د غرور ډيروالی يې ددې لامل شو چې د مانۍ له هيندارو څخه پرته بل هيڅ ملګرې او آشنا ونه لري. خلکو به هغه د "بد خلقه پري" په نوم پيژندله.

د روزګار له قضا نه په ښار کې د چېچک مرض ګډ شو. کله چې پاچا په ښار کې د چېچک له ناروغۍ څخه خبر شو د هغې له شر نه د مخنيوي له پاره يې د هينداري مانۍ له پاره ډير خدمتګاران وګومارل. او فرمان يې ورکړ چې پرته له خپله پاچا نه، بل هيڅوک مانۍ ته د تګ راتګ حق نه لري. خواړه او ضروري وسايل بايد د بګيو په واسطه مانۍ ته ځيرمه

هر کله به چې شهزادګی هينداري ته کتل پر خپل حسن او بنکلا
به يې آفرين ويل.

ولیږدول شي او بیا وروسته خدمتګاران دې هر څه مانې ته وردننه کړي ترڅو مانې ته د چپچک په ناروغۍ د اخته کسانو له ننوتو څخه مخنیوی وشي.

ولې د پاچا او درباریانو له ټولو هڅو سره سره، دغه ناروغي د هیندارو له سرحد نه ورتیره او د پري تر ګل نه نازک صورت یې تر خپلې حملې لاندې ونیو.

کله چې پري د بیهوشۍ په حالت کې وه پاچا له دې کبله چې د هغه یواځینۍ لور خپله ټوله ښکلا او لطافت دومره ژر له لاسه ورکړی و، ډیر خواشینی او غمجن شو. پاچا نه پوهیده چې کله د هغه لور په هوښ راشي او خپل صورت په هینداړې کې وګوري نو په هغې به څه تیر شي. هغه دستور ورکړ چې د مانې ټولې هینداړې دې ماتې کړای شي. کله چې پري په هوښ راغله، له نړۍ نه بې خبره، لومړی یې هینداره وغوښتله! هیچا ددې کار د سرته رسولو جرأت ونکړ او ټولو به یو بل ته په غمجنه توګه کتل تر څو چې بالاخره د پاچا سلاکار (مشاور) وزیر چې یو با تدبیره سړی و پاچا ته یې وویل: ”ځنډ یا ژر پري باید پوهه شي چې واقعیت څه دی او د هینداړې پټول هېڅ درد نه شي دوا کولای. ښه به دا وي چې هغې ته هینداره ورکړو چې خپل صورت وګوري.“

کله چې پرې هينداره خپلې خيرې ته مخامخ ونيوله، له واره يې ليرې وارتوله او له وحشته بيرته بيهوښه شوه. کله چې بيرته په هوښ راغله يو وار بيا يې هينداره وغوښته او دومره يې وژړل چې بيا بيهوښه شوه.

دې کار څو شپې او ورځې ادامه درلوده تر څو چې بالاخره په ژړا ژړا په ژور خوب کې ويده شوه. په خوب کې يې يو غږ واورېد چې په آرامۍ يې ورته وويل: ”ستا د خيرې ښکلا لکه د ګل پشانې ژر تيريدونکی او له منځه تلونکی ده! خو تلپاتې ښکلا په سيرت (ښه خوی او عادت) کې نغښتې ده. د صورت پر ځای خپل سيرت ښکلی کړه تر څو تلپاتې ښکلا ومومې.“

د هغې ورځې په سبا د تېرو ورځو پر خلاف پرې هينداره ونه غوښته. بلکې له خوبه راپاڅيده او تر هر څه د مخه يې له خپلو خدمتګارانو نه عذر وغوښته.

دا کار دومره د حيرانتيا وړ و چې په ښار کې خلک له هغې خبر شول ولې هيچا نه شو کولای پرې باور وکړي. خو ژر يا وروسته خلکو بايد دا حقيقت منلی وای ځکه چې پرې تصميم نيولی و خپل سيرت ښکلی کړي. تردې وروسته پرې د ښار د ټولو وګړو دوسته او غمخواره شوه. د ټولو درناوی

يې کاوه او له هر بيوزلي سره به يې هره مرسته چې له لاسه کېدله نه سپموله. د هغې د ښو صفتونو آوازه د هغوی د ښار له پولو څخه واوښته او ژر هغه د ”پرښته خويه پري“ په نوم مشهوره شوه. هغې به خلکو ته وويل: ”په حقيقت کې دې ناروغۍ د هغې روح ته شفا ورکړه او هغه يې له يو ځان غوښتونکي ځاروي نه پر يوې مهربانې پري واړوله.“

که قامت دې سيخه کړه چيرې هينداره

ځان کړه مات، خطا ده، ما ته دهينداره

اتمه کیسه

سره زر او محبت

و نه و تر شنه آسمان لاندې په ډیره پخواه زمانه کې یو پاچا ژوند کاوه چې "میداز" نومېده. هغه د ډېر مال، دولت او شتمنۍ خاوند و. د هغه ملک او جایداد ډېر زیات و. د هغه قدرت او عزت دومره لوړ و چې د نړۍ د ټولو هیوادونو پاچاهانو به هغه ته سوغاتونه لیږل.

میداز د دنیا له ټولو نعمتونو څخه دوه څیزه خوښ کړي وو، یوه یې لور وه چې یواځنۍ وارثه یې ګڼل کېده او بل یې هم سره زر وو. هغه به له دغه دوو شیانو سره خورا مینه او محبت درلود. خو د هرې ورځې په تیریدو سره د هغه مینه او

ليوالتيا له سرو زرو سره زياتېدله. هغه به د شپې له خواه يوازې د پاچاهۍ خزانې ته ولاړ او د يو ماشوم په شان به يې له سرو زرو سره لوبې کولې او خوند به يې ترې اخيسته. د سرو زرو سکو ته به يې لاس يووړ او تر سهاره پورې به يې د سرو زرو له خښتو نه کورګوټي جوړول. ټول پوهيدل چې سره زر يواځينی سوغات دی چې هغه يې له نورو سوغاتونو څخه ډير خوښوي.

يوه شپه چې ميداز شاه بايد له خپلې لور سره يوه ګړۍ په بڼ کې تېره کړې وای د يو کار په پلمه يې له خپلې لور څخه اجازت وغوښت او د خزانې لورې ته لاړ او د عادت له مخې له سر زرو سره په لوبيدو شو. د شپې نيمايي وه چې يو غږ يې واورېد. هغه سخت وويرېد او ويې ليدل چې يو پيری ښکاره شو. خو پېرې هغه ته تسلي ورکړه چې ونه وېرېږي او ورته يې وويل: ”زه دلته د دې له پاره راغلی يم ترڅو هره غوښتنه که ولرې هغه درته پوره کړم.“ شاه چې پر دې خبرې باوري نه و زړه نا زړه يې ورته وويل: ”که چېرې ته دومره ځواکمن يې نو ماته دا توان راکړه چې که په هر شي لاس ووهم په سوچه سرو زرو واوړي. سوچه او خالص زر.“ پيری په ګونډو شو ميداز پاچا ته يې درناوی وکړ او ويې ويل: ”ای

پرتم او جلال لرونکیه پاچا! ستا غوښتنه تر سره شوه.“ وروسته بیا پیړی د سترګو په رپ کې ورک شو. میداز پاچا سوچ وکړ چې هغه اوتې بوتې وایي. هغه په خندا شو او د خزانې کلپ یې راواخیست ترڅو خزانه کلپ کړي. اما پام یې شو چې کلپ په سرو زرو بدل شوی دی. له حیرانتیا یې سترګې له ګیټکو راووتې او له خوشالۍ څخه یې چیغه کړه. د پاچا له نوکرانو څخه یو تن چې هلته په هغه نږدې ځای کې ولاړ و، دې چیغې ته یې پام شو او د پاچا خواته راغی. پاچا هغه ته وویل: ”زه دا دی اوس د ټولې نړۍ د خزانو څښتن یم، زما په اندازه سره زر به هیڅوک ونلري. هر شي ته چې لاس ورورم هغه په سرو زرو اوړي.“ او بیا یې د ډیرې خوښۍ نه نوکر په غیږ کې ونیو. خو ناڅاپه یې پام شو چې کوم فلزي څیز یې په غیږ کې نیولی دی! له نوکر نه لږ څه لیرې شو. تعجب یې وکړ، ځکه نوموړی نوکر د سرو زرو په یوې مجسمې اوښتی و.

خو د پاچا خوشالي دومره زیاته وه چې په بې پرایۍ یې مجسمه په سالون کې پرېښوده او د دروازې او دیوال په لاس وهلو بوخت شو. څو دقیقې وروسته د میداز شا او خوا ټول په سرو زرو اوښتي وو.!

ميداز به تل په يوه پلمه له خپلې لور څخه رخصت اخيسته ترڅو خپلې خزانې ته لاړ شي.

میداز شاه د خپل خوب خونې ته لاړ او په خپله بستره کې اوږد وغزید. خو ډېر ژر يې پام شو چې د هغه تخت، بالښت، بڑستن او هر څه په سرو زرو بدل شوي دي. خو هغه مجبور و چې پر هماغه زرين او کلک تخت مخ ويده شي.

کيسه دلته خلاصه نه شوه. سهار کله چې شاه غوښتل خپل سبناری وخوري، خواړه ټول سره زر شول او چای له پيالې سره د پاچا په لاسونو کې سره زر شو. په همدې توګه کله چې ميداز غوښتل دولتي سندونه لاس ليک کړي ټول سندونه د زرو په پاڼو واوښتل!

پاچا اوس پام شو چې د هغه دا غوښتنه يوه مناسبه غوښتنه نه وه او لږ څه پريشان حاله برېښېده. هغه هم وږي و هم بې خوبه او هم يې نه شو کولای چې کوم کار سره ته ورسوي. ولې په بدل کې يې ډير سره زر درلودل. د سرو زرو مانۍ، د سرو زرو بالښت، فرش او نورشيان.

د شاه پريشاني هغه وخت په يو مصيبت واوښته چې د پاچا لور د عادت سره سم کله چې يې خپل پلار وليد په چټکۍ سره د هغه خواته په منډو شوه او له هر څه بې خبره يې ځان د هغه په غېږ کې واچاوه. خو د پاچا سره زر جوړونکي لاسونه د هغه د ژوند ډېره ښه پانګه په سرو زرو واړوله.

شاه چې د دې ستر مصيبت د ليدو توان نه درلود په ژړا ژړا په ګونډو شو او د خداى دربار ته يې زارى کولې. له خداى نه يې وغوښتل چې دا قدرت دې ورنه بيرته واخلي. د ډيرو ژړاو او زاريو څخه وروسته يوه پرښته راغله او ورته يې وويل: ”تا چې تل غوښتل ډېر زيات سره زر ولرې نو اوس ولې پښيمانه شوى يې؟“ پاچا ميداز په زارى او ژړا وويل: ”حريص وم او تمه مې درلوده. تمې زما سترګې رندې کړې وې. اوس پوه شوم چې سره زر کوم داسې نعمت ندى چې زما د کورنۍ او لور د مينې ځاى ونيسي. که چېرې خداى زما لور بيرته راته راکړي او دا بې ځايه قدرت له مانه واخلي زه به خپل ټول سره زر د خداى په لار کې د محتاجو خلکو له پاره ولګوم.“ او د هغه ژړا همداسې ادامه درلوده.

پرښتې وويل: ”اوس چې تا پند اخيستى دى خداى ته وبخښلې لور او نوکر دې هم ژوندي شول.“ پاچا له خدايه مننه وکړه او نور يې د بې ځايه غوښتنو هيله يې ونه کړه او خپل سره زر يې د خلکو او د خپل هيواد ابادۍ په لارې کې ولګول.

نهمه کیسه

د نور پر بښته

و، نه و یو بزګر و د عبدل په نوم چې ډېر کبرجن او مغرور انسان و. د ځمکې کښت یې هم ښه و. باران د کال په ټاکلي وخت وریدلی و او هغه باوري و چې ښه حاصل به تر لاسه کړي. یوه شپه عبدل په ډیرې خوشالۍ او غرور خپل کور ته راستون شو او په ډیر ویاړ یې خپلې ښځې ته لاڅې و وهلې: "هر څه زما په خیر دي. زما ځمکه د نورو خلکو د ځمکو په پرتله ډیره حاصلخیزه ده. هرومرو خدای زما نه راضي دی. پوهیږې! د دې له پاره چې پدې باره کې باور ومومم، په لارې کې مې خپله کورتۍ یو سوالګر ته خیرات

ورکړ.“ ښځې يې ورته په قار وويل: ”څه؟؟؟ خپله د کار کورتی دې خيرات ورکړه؟ نو کوم بل شی نه وو چې خيرات کړی دې وای؟“

عبدل وويل: ”که څه هم چې دا يو اسراف و، خو ما وغوښتل چې ځان ډاډه کړم چې د ځمکې حاصلات له لاسه لاړ نشي. بله خبره دا چې له ښه عمله هميشه ډير ثواب تر لاسه کيږي.“

ښځې په زياتو کړتو سره وويل: ”که ته رښتيا غواړې چې يو ښه کار تر سره کړې زمونږ د کور بام بايد جوړ کړې ځکه چې له هرې خوا نه څڅيږي. د چت تيرونه بيخي زاړه شوي دي او د بام اخيړ هم په بشپړه توګه شړيدلی دی. وروستی ځل دې چې بام اخيړ کړ ترې پنځه کاله تېر شوي دي.“

عبدل په ډير قهر او غصې سره ځواب ورکړ: ”څه دې وويل؟؟؟ بام اخيړ کړم؟ دا کړتې بس کړه. زه ډير مهم کارونه لرم چې بايد تر سره يې کړم. د بام اخيړولو ته وخت نه لرم!“ او په غسه له کوره بهر شو. په هغه شپه د عبدل په کور يو غل ورسم شو او د غټو کدوګانو بوټي چې د تاک پر څانګو د بام سرته رسيدلي و د هغه پام ځان ته واړاوه. غل

په ورو ورو بام ته پورته شو او لا څو ګامه يې د کدو خواته نه و پورته کړي چې بام يي د پښو لاندې سوری شو او د عبدل د پاسه چې ويده و ور ولويد! عبدل په ډېرې وارخطايۍ سره له خوبه راويښ شو. د سپوږمۍ رڼا يې وليده چې د بام له سوري نه ښکاري او د غله د وزن فشار يې احساس کړ. په ډيره ويره يې چېغه کړه چې څه خبره ده او څه پاتې نه وو چې د ټولې پېښې نه خبر شي. خو غل چې يو چالاکه سړی و، پرته د وخت د ضايع کولو څخه په مخصوصې لهجې سره يې وويل: ”ای مشره، زه د نور پرښته يم او ستا ليدلو ته راغلی يم.“

عبدل په حيرانتيا وويل: ”څه؟ ... پ ... پ ... پر ... د نور پرښته! ښه راغلاست! جناب عالي تاسو ښه راغلاست. فکر کوم راغلئ چې د هغې ښېګڼې په اړوند چې نن مې کړی دی، يانې سوالګر ته د کورتۍ د بخښلو له امله له ما څخه قدردانی وکړئ.“

غله وويل: ”هوا! بالکل همداسې ده. خو رښتيا ووايم چې ما تر اوسه پورې دا موضوع نه ده څېړلې. څرنګه چې د يو رپوټ ليکونکي پرښتې دنده ډيره جنجالي او ستونزمنه ده، نو زه نشم کولای چې ټولې پېښې په کتاب کې وليکم.“

عبدل وویل: ”خو زه باور لرم چې زما داسې یو نیک عمل هیڅکله پټ نشي پاتې کېدای.“

پرېنټې ځواب ورکړ: ”ښه، ښایي وکړای شم چې د فوق العاده عمل په نامه یو څه ستا د عملنامې په کتاب کښې ولیکم خو لس زره افغانۍ خرچه لري. پر لس زره افغانیو به دې هرومرو کار تر سره شي.“

عبدل عاجزانه وویل: ”زه دومره پیسې نلرم. هیله کوم دا پنځه زره ومنئ.“ پرېنټې زړه نا زړه موافقه وکړه او عبدل پنځه زره افغانۍ د توشکې له لاندې وایستې او هغه یې پرېنټې ته ورکړې او بیا یې هم فرېنټې ته یادونه وکړه چې د هغه دغه خیر کار هیر نکړي. پرېنټې ځواب ورکړ: ”یقیناً مشره! ستا دا عمل نه یوازې په جنت کې بلکې ستا په همدغه کلي کې هم پټ نه پاتې کیږي.“ او بیا یې له عبدل نه غوښتنه وکړه چې ور ورته خلاص کړي چې د باندې ډیر کار لري. عبدل یوه شیبه حیران شو چې ولې پرېنټه له هماغې لارې چې راغلې وه بیرته لاړه نشوه، خو ډیر ژر یې ورته دروازه په ډیر درناوي خلاصه کړه او په تشریفاتو او ډیر قدردانۍ سره یې د پرېنټې سره خدای په امانې وکړه او بیرته ویده شو. بله ورځ عبدل په ډیر ویاړ او خوښۍ خپل ګاونډي ته پیښه یاده کړه.

عبدل په ډېر ویاړ او خوښۍ خپل ګاونډي ته د پرونۍ شپې د پېښې قصه کوي.

ګاونډي په نا باورۍ او خندا سره وويل: ”پنځه زره افغانۍ ډيرې پيسې دي! هرومرو دې خوب ليدلی دی!“ عبدل د ګاونډي لاس ونيو هغه يې کوټې ته بوته او د چت سوری يې ورته وروښود. ګاونډي چيغه کړه او وې ويل: ”له کومه وخته را پدې خوا پرښته دې ته اړه شوې ده چې بام سوری کړي تر څو لاندې راشي! ...“ دايې وويل او په بيړه حويلۍ ته په منډه شو. هلته يې د پښې ډير پلونه يې وليدل چې لارې يې د عبدل د کور خواته وې. بيا په داسې حال کې چې خنديده، مات شوی تاک يې عبدل ته وښود او ورته يې وويل: ”يه ساده سړيه! هغه څوک چې پرون شپه ستا ليدلو ته راغلی ؤ، هغه پرښته نه وه بلکې غل و ځکه چې بام يې تر پښو لاندې سوری شو او د کوټې دننه ولويد!“ د عبدل ښځه چې ډيره په غسه وه، وې ويل: ”ښه دی چې غل درته سبق درکړ. د دې پر ځای چې خپل وخت دې د راتلونکي شتمنيو په اړه په خوب او خيال کې تير کړی وای، بايد خپله دنده دې تر سره کړې وای او بام دې اخيړ کړی وای. خو تا په هغه څه چې درلودل قناعت ونه کړ او ډير حرص او غوښتنه دې درلوده او ودې غوښت چې خدای هم تير باسې، په بدل کې هغه څه چې دې درلوده هغه دې هم له لاسه ورکړ!“

لسمه کیسه

پک هلکی

یو وختي د کمپوچیا په یوه کلي کې یو ځوان هلک ژوند کاوه چې له بده مرغه پر سر یې یو تار وېښته هم نه لیدل کیده او بالکل پک او ګنجی و. هغه د خلکو د ملنډو او د ژبي د ټپ لامل شوی و. ټولو به هغه په بیلو بیلو نومونو یادوه چې ډیر عادي نوم یې پک هلکی و.

ځوان هلک که څه هم په ظاهره کې خلکو ته خندل ولې په باطن کې هره خندا او پیغور لکه د یو لور په شان د هغه د زړه خوښې یو په یو ریبل. یو له هغه اساسي ستونزو نه چې پک هلکی د هغه سره لاس و ګریوان و د هغه مجردي وه

چې ټولو خلکو هغه ته د خپلې لور له ورکولو نه ډډه کوله په پای کې د پک طاقت له لاسه ووت او د درملنې له پاره لاس په کار شو. د هغه یو دوست هغه یو مهربان طبیب ته ور معرفي کړ چې د هیواد په یو لیرې کلي کې یې ژوند کاوه او ډېر د خیر لاس یې درلود او د ښو خویونو څښتن و.

د ډیرو دوستانو له ډیر تاکید سره سره چې هغه یې ښار ته تګ او ښاري طبیب ته د مراجعې له پاره هڅاوه، پک هلکی بالاخره دې ته اړ شو چې د خپل دوست خبره ومني او د کلی خواته رهی شو.

طبیب یو ډیر مهربانه او د دوستۍ وړ سړی و. هغه پک هلکې ته وویل: ”کرانه دوسته، که هغه څه چې درته وایم، نه ډیر او نه لږ، تر سره کړې د سر ویښته به دې بیرته شنه شي او په سر کې به دې د ګنجیتوب نښه هم پاتې نشي. زما د حویلۍ په کنج کې یوه ژوره څاه ده. هغې کې ورننوزه او یوازې سر دې په اوبو لوند کړه او بیرته رابهر شه. د خپل سر د حالت له بدلون څخه به ته په خپله حیران شې.“

پک هلکې هماغسې وکړل. لا له څاه نه راوتلی نه و چې احساس یې وکړ سر یې درونده شوی دی. کله چې له څاه نه راووت او خپل لاس یې پر خپل سر باندې تیر کړ باور یې



پکی هلکی د طبیب د مشورې په مطابقپه څاه کې د ننه
ښکته کیږي.

رانغی! په سر کې يې طبيعي ويښتان ټوکيدلي وو! کله چې پک هلکی کلي ته راغی، چا هغه ونه پيژند! ځکه چې د ويښتانو سره دومره ښکلی ښکاريده چې د بې ويښته سر سره د پرتلې وړ نه و. لنډه دا چې د پک هلکي نوم هير شو او د کلي په ځوانانو کې هغه د ډير ښکلي ځوان په نامه مشهور شو او په هر کور کې به د هغه د ښايست او ښکلي وپښتانو په اړه خبرې کېدې. ډير ژر يې د کلي له يوې ډيرې ښکلې نجلی سره کوژدن وکړ.

څو ورځې واده ته پاتې نه وې چې د پک هلکي په ذهن کې يو سوچ پيدا شو. هغه غوښتل چې خپله کوژدن د تحسين وړ وګرځوي. نو يوه ورځ پرته له دې چې څوک له خپل سفر نه خبر کړي له کلي نه بهر شو او د طبيب کلي ته لاړ. کله چې هغه کلي ته ورورسيد شپه وه. هغه د شپې له تيارې نه په ګټې اخيستو سره د څاه سر پرانيست او د لا ښکلا په اميد يو ځل بيا خپل سر او مخ ومينځه. کله چې له کوهي نه راووت سر يې داسې سوی کاوه چې ته به وايې په خپل سر يې مرچ مښلي دي. او بيا يې پام شو چې سر يې له پخوا نه لا ډير پک شوی دی. په ډير قار او غالمغال سره يې د طبيب دروازه ووهله او هغه يې په ناسمه درملنې تومتي کړ. طبيب

په آرامۍ سره د هغه څيرې ته وکتل او ورته يې وويل: ”ما ونه ويل چې هغه څه وکړه چې زه يې وايم؟ ډير حسادت ستا سترګې ړندې کړې. پريږده چې دا ستا له پاره يو درس شي چه نور حسادت ونکړي او هغه څه چې لرې په هغې قانع و اوسې.“

يوولسمه کيسه

بې پروا بيزو

(تي تو) ځوان بيزو چيغه کړه: ”نه نياني! نه، نه، نه! دا ټول درواغ دي!“ او په لوړ خيز له خپل نيکه نه ليري شو. هغه لږ ډار شوی و او لړزيده خو پرله پسې يې له ځانه سره ويل: ”دا سوچ درواغ دی! دا بالکل غلطه خبره ده! دا هيڅ امکان نه لري!“ هغه د ارچې د يوې ونې په ستر ښاخ کښېناست او له ځان سره يي سوچ کاوه: ”کله چې زه ماشوم وم ټولو خپلوانو او خيښانو به راته ويروونکې کيسې کولې چې زه ليرې لاړ نشم او ورک نشم او يا زر ويده شم. خو اوس چې لوی شوی يم پوهيږم چې ښه او بد کوم دي، نور نو د يو ځاروي

غټوالي د ونې د څټ په کچه او د زمري په شانې تیره غاښونه او لکه د څېرې په شان سخته څرمن چې وکولای شي هم په اوبو کې ولامبي او هم د ځمکې پر مخ وخوځیږي امکان نلري. عجب درواغ! دومره غټ درواغ! دا ټول د دې له پاره دي چې زه اوبو ته نږدې نشم! زه پوهیږم چې نیکه مې دا اندیښنه لري چې زه سم لامبلی نشم. له دې کبله یې دا خیالي څاروی جوړ کړی دی چې اوبو ته نږدې نشم. پداسې حال کې چې هغه کولای شي صادقانه راته ووایي چې اوبو کې مه ګډیږه چې ډوب نشې!"

خو زړه یې آرام ونه نیو او ورته یې بده ګواهي ورکوله. د دې کبله د ارچې له ونې نه والوت او څو ټوپونو سره یې ځان زرافې ته ورساوه. تر سلام علیک نه وروسته یې پوښتنه وکړه، "آیا داسې یو څاروی چې هم په اوبو کې ولامبي او هم د ځمکې پر مخ ژوند وکړي او هم غښتلی وي او تیره غاښونه او سخت څرمن ولري، شتون لري؟"

زرافې د هغه خبره پرې کړه او وې ویل، "پوهیږم چې ته د وینې څښونکي تمساح په اړه خبرې کوې. آه چې زما وراره څنګه د دې وحشي ځناور ښکار شو ...

تي تو په چیغو او شورماشور سره د زرافې خبرې قطع

کړې او ورته يې وويل: ”نيکه مې تا ته څه درکړي دي چې د هغه دا خيالي درواغ زما له پاره تصديقوې...“ زرافې چې وراره يې هغه غمجنه کړې وه، سترګې يې له اوښکو ډکې وې. بې له دې چې د بيزو دغه لا پروايې ته يې پام شوی وي، خپلو خبرو ته يې داسې ادامه ورکړه: ”وينه څښونکی ظالم ځناور! افسوس چې ما خپل نازولی وراره له لاسه ورکړ...“

تي تو چې خپل عقل يي له لاسه ورکړی و، پرته له دې چې له زرافې څخه خدای پامانې وکړي، له هغې څخه لېرې شو. په داسې حال کې چې ټوپونه يې وهل، ځان يې توتي ته ورساوه. توتي چې د پوخ عمر الوتونکی او د تجربې څښتن و په آرامۍ يې تي تو ته غوږ ونيوه او کله چې تي تو خبرې خلاصې شوې نو ورته يې وويل: ”تي تو جانه! زه باور لرم چې دا داړونکی ځناور چې تا يې يادونه وکړه پرته له وينې څښونکي تمساح څخه بل څه نه دی. خدای دې هر ژوی د هغه له شره وساتي.“

تي تو پداسې حال کې چې پر شونډو موسکی شوی و توتي ته وويل: ”توتي اکا! وبخښه چې ما هير کړی و چې ته هم زوړ شوی يې او عقل دې کار نه کوي. برسيره پر دې سترګو دې هم خپل ديد له لاسه ورکړی دی. لاړشه له اوبو

نه يو کب ونيسه د ځمکې پر مخ يې کيږده او وګوره چې تللای شي؟ بله دا چې څنګه امکان لري يو پوستکی چې د لرګي په شان سخت وي، د اوبو په منځ کې ژوند وکړي؟ هرومرو د ونې کوم ډډ دې په اوبو کې ليدلی دی او خيال کوې چې تمساح دی. خدای دې تاته عقل درکړي او يا دې زمونږ له مخې وروک کړي!" تي تو تم نشو چې د توتي ځواب واوري او په بيړه د توتي له ځالې نه ليرې شو.

په لاره کې يې سترګې په يو مردار خور سپي ولګيدې چې ټولو حيواناتو له هغه سره د هغه د مردار خورۍ او چټيات ويلو په وجه ناسته پاڅه نه درلوده او ترينه يې کرکه کوله. کله چې د تي تو سترګې پر سپي ولګيدې د تمساح او د هغې د نښو په هکله يې ورنه پوښتنه وکړه. سپی چې په دروغ ويلو او پليدو کارونو کې نوم درلود او په ټول ځنګل کې مشهور و نو ځان ته يې يوه حق په جانبه څيره ونيوله او پداسې حال کې چې خپل سر يې په آرامۍ خوځاوه په خبرو يې پيل وکړ او وې ويل: "تي تو جانه! هر څوک چې زوړ شو نو پوهه يې لږيږي. زه باور لرم چې دا چټيات دې نيکه په غوږ کې درته پو کړي دي!" تي تو بې له ځنډه وويل: "آفرين دې وي پر تا پاندې، خو ته له کومه پوهيږې چې زما نيکه دا خبرې

کړې دي!" سپي ادامه ورکړه او وې ويل: "کوره دا خبرې ټول دروغ دي. که چېرې غواړې دا خپره سپينه کړې، ساحل ته لاړ شه قدم وهه او په لوړه لوړه وايه. ای تمساحه که چېرې شتون لرې او نر يې را بهر شه! تمساح يو خيالي ځناور دی چې عيني وجود نلري او ستا نيکه له خوانه جوړه شوې خبره ده چې تا وويروي! "

تي تو د سپي پند ته غوږ ونيوه او د هغې ورځې په مازديګر د ساحل څنډې ته لاړ او په شعار ورکولو يې پيل وکړ. څرنګه چې څه يې وانه ورېد نو لا زړور شو او لا پسې قوي شعارونه يې ورکړل لکه: "د ميدان ميړه تي تو دی د ميدان اوزه ده تمساح ..." يو ځلي د خش خش په شان يې يو آواز واورېد. مخ يې راواړوه او لږ څه وويريد، خو څه يې ونه ليدل. ځان سره يې وويل چې ښايي دا زما د پښو غږ وي چې د ساحل د شګو پر مخ ښويږي. يو ځل يې بيا د غر غر په شان يو آواز واورېد او لږ څه ولړزيد، خو بيايې څه ونه ليدل. د ځان سره يې وويل چې ښايي دا د باد آواز وي.

همدا شان په لټون بوخت و او شعارونه يې ورکول چې يو ځل يې يو څيز لکه د ونې د ډډ په شان وليد. چې ورته ځير شو دوه وړې او تيارې سترګې يې وليدې او کله چې ځناور



که چېرې تي تو د خپل نيکه نصيحت ته غوږ نيولی وای، په دې حالت نه وای اخته شوی.

په خبرو پيل وکړ د هغه تيرو او غټو غټو غابنونو د تي تو پر اندام لړزه راوسته. تمساح وويل: ”ته ربښتيا وايې چې زه خيالي يم او وجود نلرم او ته واقعي يې. خو د نن نه به وروسته نور وجود ونلرې.“ او بيا يې په يو حرکت په تي تو باندې توپ کړل او د هغه د هډوکو خوړلو د خرچ خرچ غږ د ساحل تر غوږو رسيده.

دولسمه کیسه

د آدم چپړ کل

و نه و یو پادشاه و. هغه یوه ورځ خپل بڼ ته لاړو چې د خپلو ګلانو او ونو نندارہ وکړي. هلته يې په ډېرې حيرانتيا سره وليدل چې ټول نباتات او د بڼ ونې خواشينې او مړاوې دي. پادشاه د هغو د خواشينتوب د علت پوښتنه وکړه. د څېړې ونې په ځواب کې وويل چې هغه له خپل ژوند څخه مړه شوې ده او غواړي چې مړه شي، ځکه هغه د لنمځې د ونې په څير جګه او ښکلې نه ده. له بلې خواه د لنمځې ونه هم خپه او خواشينې وه ځکه هغې نشو کولای چې د انګورو د بوټي په شان په خپلو څانګو کې ميوه ولري. تاک هم په

خپل وار سره ګیلې کولې او ویل یې چې ولې هغه کوږ دی او لکه د لمنځي په څیر نیغ ودریدلای نشي او همدا شان نشي کولای چې لکه د شفتالو د ونې په شان غټې غټې میوې ونیسي. د جریبن ګل هم خپه و، ځکه د هغې ګلان لکه د مرسل د ګل په شان، لوی او معطره نه وو....لنډه دا چې ټول نباتات خواشیني وو او هر کوم په خپل وار سره ګیلې او شکایتونه درلودل.

پادشاه حیران پاتې و چې څه وکړي. ناڅاپه د هغه سترګې د آدم خټرې په ګل باندې ونښتې چې ډېره خوشاله او خندانه دی او د نورو بوټو په څېر خپه او مړاوی نه ښکاري. هغه سندرې وایي او خوشالي کوي. پادشاه سمدلاسه له هغه سره خبرې اترې پیل کړې او ورته یې وویل: "ای خندانه ګله! زه نشم کولای ووایم چې څومره خوشاله یم چې د دې دومره ونو او بوټو په منځ کې چې ټول خپه او مړاوې دي او له خپل روزګاره څخه ګلې او شکایتونه لري، ستا غوندې یو خندانه او زړور ګل ګورم. داسې ښکاري چې ته هیڅ کومه ستونزه نه لرې."

ګل موسکی شو او په خندا سره یې ځواب ورکړ: "که څه هم زه له خپلو ټولو شاو خوا ګلونو څخه د جسامت له پلوه

د بڼ د ټولو ګلانو او ونو په منځ کې د آدم چهرې ګل هغه یواځینی ګل و چې د خپل ژوند څخه راضي او خوشاله و.

کوچنی او بې ارزښته یم، خو هیڅ کومه ګیله یا شکایت نه لرم، ځکه ما د خپل ځان سره دا سوچ وکړ که چېرې خدای غوښتي وای چې زما پر ځای د څېړۍ یا لمنځي ونه او یا د مرسل ګل پیدا کړي، هغه دا کار کولای شول. خو له دې کبله چې هغه دا کار نه دی کړی نو داسې ښکاري چې د خدای اراده دا وه چې زه دې باید د آدم څېرې ګل و اوسم. نو له دې کبله ما هوډ کړی دی چې په خپل ټول قوت او توان سره یوه خندانه او شادابه ګل و اوسم.“

دیارلسمه کیسه

وحشي زانې

و نه و یو پادشاه وو چې یوولس زامن او یوه لور یې درلوده. د هغه د لور نوم "الیزا" وه. دغه شاهزادګۍ او شهزادګان چې کله یې مور ژوندۍ وه ډېر ښه او هوسا ژوند یې درلود او د هغوی ژوند په خوشالۍ او خندا سره تېرېده. خو له بده مرغه د هغوی مور مړه شوه. نو پادشاه له یوې شریرې ښځې سره چې کوډګره هم وه واده وکړ. دغې کوډګرې ښځې هغه یوولس واړه هلکان په وحشي زانو بدل کړل. الیزا نه پوهیده چې په هغو څه شویدي. هغه حیرانه پاتې وه او د زړه له کومې خواشینې وه.

یوه ورځ شاهزادګی د یوې غونډې د پاسه پورته شوه او د سمندر په لور یې کتل. هغې یوولس وحشي زانې ولیدې چې له سمندر څخه د هغې په لور د الوتلو په حال کې وې. کله چې لمر په پرېوتو شو هغوی د الیزا ترڅنګ راښکته شوې. سمدلاسه د هغوی بڼکې تویې شوې او یوولس وروڼه په خپله اصلي بڼه د شاهزادګی ترڅنګ ودریدل. الیزا د ډېرې خوشالۍ څخه چیغه کړه: "اوه زما ګرانو وروڼو! پس له دې به مونږ ټول سره یوځای اوسیږو."

ولې د هغې مشر ورور په ډېر افسوس سره په داسې حال کې چې خپل لاس یې په خپل سر ویشته، وویل: "نه! زمونږ کم اصلي میرې مور مونږ جادو کړي یو. مونږ هره ورځ له لمر خاته څخه تر مابنامه پوري وحشي زانې جوړیږو او پس له مابنامه کله چې لمر پرېووت مونږ ببرته په خپل اصلي شکل اوړو. مونږ نشو کولای چې دلته ژوند وکړو. زمونږ ټاټوبی ډېر لېرې په سمندر کې دی."

شاهزادګی زاری او نتواتې وکړې چه هغه دې هم له ځانونو سره هلته یوسي. او بالاخره وروڼو یې د تازه ولو له ځانګو او د لوخو څخه یوه ځاله و اوبدله. کله چې سهار شو نو هغوی په جبري توګه په زانو واوښتل. هغوی خپله خور په

زانو کله چې شاهزادګی ولیده نو ټول د هغې ترڅنګ
رابنکته شول.

دې ځاله کې واچوله او هر یوه هغه ځاله له یوې څنډې څخه ټینګه ونیوله او نجلۍ یې له ځانه سره بوتله.

کله چې مابنام نږدې شو، وروڼو یې په داسې حال کې چې سخت توپان په کانړو لګیده، ببرته د انسانانو په شکل واوښتل. د آسمان ستوري ځلیدل خو شاهزادګۍ سره کومه وبره نه وه ځکه له هغې خپل وروڼه چاپیر وو. وروڼو یې خپل لاسونه له هغې څخه چاپیر کړي وو او هغې خپل ځان بالکل خوندي احساساوه.

بله ورځ سهار زانړو یعنې د نجلۍ وروڼو هغه راپورته کړه او له ځانه سره یې یوه ښکلې هیواد ته بوتله. هغلته نجلۍ په خوب پریوته او په خوب کې یې یوه ښاپیرۍ ولیده چې د هغې څنګ ته راځي او ورته وایي چې هغه کولای شي چې د هغې له وروڼو څخه دغه جادو لیرې کړي. که چیرې هغه د ګزنې له بوټي څخه، چې یو اغزن بوټی دی، کمیسونه جوړ کړي او هغه په زانړو باندې وارتوي نو د هغوی څخه به دا جادو لیرې شي. خو شرط یې دا دی چې د کار تر پایه پورې دې له هیڅا سره خبرې نه کوي. کله چې له خوبه پاڅیده نو لیدلی خوب یې ورپه یاد شو او سمدلاسه یې په کار پیل وکړ. اغزیو د هغې نازک او تنکي لاسونه ټناکې ټناکې کړي

وو، خو هغې د دې هيڅ پروا نه کوله او خپل کار ته يې دوام ورکاوه.

مابنام کله چې ورونه يې ببرته ستانه شول ګوري چې د هغې د خور لاسونه تناکې دي. له هغې څخه يې وپوښتل چې دا ولې داسې شويدي. خو هغې په ځواب کې هيڅ هم ونه ويل او چپه خوله پاتې شوه.

بله ورځ د هغې ملک پادشاه له هغې ځايه تېرېده او سترګې يې په الیزا ولګېدې. پاچا په هغې مين شو او غوښتل يې چې ورسره واده وکړي. الیزا د پادشاه مهرباني څېرې ته وکتل او څه يې ونه ويل. د پادشاه زړه پر هغې وسوو، ځکه هغه ګومان وکړ چې ګنې دغه نجلۍ ګونګۍ ده. هغه يې له ځانه سره خپلې مانۍ ته بوتله. هلته يې ورته د واده يو شاندار جشن جوړ کړ او ځان ته يې واده کړه. خو الیزا خوشاله نه وه. هغه په ځنګله او بيديا کې سرګردانه ګرځيده او ګزنې (يو ډول اغزن بوټی دی) به يې ټولولې چې خپلو ورونو ته ترې کميسونه جوړ کړي.

ځيني خلکو به چې کله کتل چې هغه په دې کار کې بوخته ده نو ګومان به يې کاوه چې ګنې دغه نجلۍ کوډګره ده. خو هغې به په بې پروايۍ سره خپل کار ته ادامه ورکوله

تر هغې چې وتوانېده چې لس کمیسونه بشپړ کړي او یوولسم کمیس هم د بشپړېدو په درشل کې و. په هغې زمانې کې خلکو په کوډو او جادو باندې عقیده نه لرله او له کوډګرو څخه به یې کرکه کوله او ورته به یې په بدو سترګو کتل. څه وخت لا تیر نه و چې له هرې خوا دا آواز راپورته شو چې دغه نجلۍ دې باید ووژله شي. هغه یې له ښاره څخه ووېسته او نږدې و چې هغه له یوې پایې سره وتړي، چې په همدې شېبې کې یوولس زانې د هغې ترڅنګ راښکته شوې. خلک ووېرېدل او له هغې څخه لېرې شول. الیزا خپل ځان د هغو په منځ کې واچاوه او هغه یوولس کمیسونه یې چې اوبدلې وو له خلکو څخه واخیستل او په زانو یې واچول او د هغې ګران ورونه صحیح او سلامت د هغې ترڅنګ ودرېدل.

الیزا په خلکو ناري کړې: "لاړ شئ او پادشاه ته ووایئ چې زه کولای شم چې اوس خبرې وکړم."

کله چې پادشاه راغی الیزا د خپلې خاموشۍ ټول داستان پادشاه ته بیان کړ. خلکو د هغې له پاره دعا وکړه او پادشاه د نجلۍ او یوولسو نورو شاهزادګانو په ویاړ یو شاندار محفل جوړ کړ.

خوارلسمه کیسه

د قاضي آس

و نه و یو قاضي و چې په خپلې سیمې کې یې ډېر عزت درلود او خلکو به د هغه پوره درناوی کاوه. یوه شپه د معمول په شان قاضي او د هغه افرادو په یوې سیمې کې د شپې ګزمه کوله. له دې کبله چې ناوخته شوی و نو هغوی اړ شول چې شپه په یوه نږدې کلي کې تیره کړي. د کلي مشران چې کله د قاضي له راتګ څخه خبر شول، د هغه څنګ ته ورغلل او ورڅخه یې غوښتنه وکړه چې د هغوی یوه لانجه هواره کړي.

لانجه داسې وه چې کلونه پخوا د هغوی په کلي کې یو کس مړ شوی و او له هغه څخه یو څه زمکه په میراث پاتې

وه. دغه زمکه د هغه یواځني زوی ته باید سپارل شوی وای. خو د هغه زوی د خپل د پلار د مړینې پر مهال ډېر کوچنی و او زمکه هغه ته ورنکړل شوه. هغه یو تره درلود او هغه ژمنه وکړه چې تر هغې پورې چې د هغه وراره لویږي هغه به د هغه د جایداد ساتنه وکړي او کله چې هغه ځوان شي او په خپلو ښو او بدو وپوهیږي نو دی چمتو دی چې د هغه زمکه او ټول جایداد هغه ته بیرته وسپاري. کله چې هلک لوی شو، څو ځله یې خپل تره ته مراجعه وکړه او ورځخه یې وغوښتل چې د هغه زمکه او جایداد هغه ته بېرته وسپاري. خو له دې کبله چې د هغه تره نه غوښتل چې هغه ته زمکه بیرته وسپاري نو دغه مسأله یې د یوې ورځې څخه بلې او د یوه کال څخه بل کال ته شاته غورځوله. تر هغې چې هلک درک کړه چې تره یې دې ته چمتو نه ده چې د هغه ملکیت هغه ته بیرته وسپاري او هغه د خپلو زمکو د بیرته ترلاسه کولو څخه نا امیده شو. خو دهغه تره په دې هم قناعت ونکړ. هغه د خپل وراره له پاره یوه دسیسه جوړه کړه او په هغه یې د غلا تور ولګاوه او په ناروا توګه یې په زندان کې واچاوه.

قاضي چې کله دغه کیسه واوریده ډېر خواشینی شو او ژمنه یې وکړه چې هغه به په یو ډول سره دغه ستونزه هواره

کړي. په هغې شپې قاضي خپلو افرادو ته حکم وکړ چې د هغه سپين آس واخلي او د هلک د تره په زمکو کې يې خوشې کړي.

سبا سهار، کله چې قاضي له خوبه ويښ شو د هغه آس وروک شوی و. د قاضي افرادو د آس د لټون په خاطر هاخوا او ديخوا ګرځيدل چې د هغه اس يې د هلک د تره په زمکو کښې وموند. قاضي حکم وکړ چې د زمکې څښتن دې فوراً محکمې ته حاضر شي. د هلک تره ډېر ژر محکمې ته راوستل شو. قاضی هغه د خپل آس په غلا تورن کړ او حکم يې وکړ چې هغه دې د خپل دې عمل په خاطر يا جرمانه ورکړي او يا دې په زندان کې واچول شي.

تره د دې تور په ځواب کې وويل چې هغه د دې وروک شوي سپين اس په اړه په هيڅ څه نه پوهيږي. هغه خپلو خبرو ته دوام ورکړ او په ژړا او زاريو سره يې وويل چې هغه کاملاً بې ګناه دی. خو د هغه خبرو هيڅ ګټه نه درلوده.

قاضي ورته وويل: ”خو مونږ اس ستا په زمکو کښې موندلی دی.“ قاضي ګواښ وکړ که چېرې هغه په خپل جرم قايل نشي نو په زندان کې به يې واچوي. تره ته پکار وه چې د دې ستونزې څخه د خلاصون په خاطر د حل يوه لاره

وسنجوي. هغه خپل مخ قاضي ته واړوو او ورته يې وويل: ”قاضي صاحب! په حقيقت کې دغه زمکه زما ملکيت نه ده. دا زمکه زما په وراره پورې اړه لري.“

قاضي وويل: ”ستا وراره چېرې دی؟ هغه دلته راوله.“

تره وويل: ”زما وراره په زندان کې دی. هغه نشي راتلی.“

قاضي خپل مخ خپلو ساتونکو ته واړاوه او هغو ته يې وويل: ”د هغه واره پيدا کړئ او فوراً يې دلته راولئ.“ د هغه سړي واړه سمدلاسه محکمې ته راوستل شو او دا يې ومنل چې د هغې زمکې اصلي څښتن پخپله دی.

قاضي د هلک تره ته مخ واړاوه او ورته يې وويل: ”دا ناممکنه ده چې دغه هلک دې زما اس غلا کړی وي. ځکه هغه ټول وخت په زندان کې و.“

قاضي وړاندیز وکړ چې هغه حاضر دی چې د غلا اتهام د سړي نه لېرې کړي په دې شرط چې هغه سړی هم له خپل تور څخه چې په خپل وراره يې لګولی دی لاس واخلي. وروسته بيا د غلا تور د سړي څخه لېرې شو او د هغه وراره هم له زندان څخه آزاد شو او د هغه زمکه ورته بيرته وسپارل شوه.



قاضي د هلک تره محکمې ته راوغوښت ترڅو له هغه څخه د آس د غلا په اړه پوښتنه وکړي.

د قاضي افراد او همدا راز د کلي خلک د قاضي د دې عدالت او هوښیارۍ څخه ډیر خوشاله شول او د هغه د دې عمل ستاینه یې وکړه.

پنځلسمه کیسه

سورغاښی دېو

وه نه وه یوه مهربانه بوډی وه چې درې زامن یې درلودل. د بوډی زامنو به تل د خپلې مور احترام کاوه. خو یوه ورځ د هغې مشر زوی د خپلې مور نافرماني وکړه او له خپلې مور څخه یې وغوښتل چې ورته ډوډی پخه کړي. مور یې ورته پراتې پخې کړې ولې کله چې یې له خپل زوی څخه وغوښتل چې هغې ته هم لږه پراته ورکړي، زوی یې انکار وکړ او ټوله پراته یې د خپل ځان له پاره واخیستله. مور یې د زړه له کومي څخه آه ووېسته او د خپل د زوی په دې بې احترامۍ سخته خوابدې شوه.

کله چې دغه هلک له کوره څخه و ووت یوه زړه جادوګره چې خپل ځان یې په یوې مهربانې مور بدله کړې وه د هغه مخې ته راغله. هغې هلک ته د یوې مزه دارې ډوډۍ د خوړلو بلنه ورکړه. هلک د زړې جادوګرې کور ته لاړ او جادوګرې هغه ته وویل: ”ته دلته کښنه. زه ځم چې تاته خواړه راوړم.“ همدا چې بوډۍ له کوره څخه بهر شوه، نافرمانه زوی یو وبروونکی غږ واورېد. وروسته یې بیا یو سورغاښی لوی دیو یې ولید چې په قهر سره د هغه خوا ته راځي او یو ډانګ یې هم په لاس کې دی. دیو په خپل ډانګ سره د هلک په سر وویشت او ورته یې وویل: ”نافرمانه هلکه! په کانې بدل شه!“ او هلک سمدلاسه په کانې بدل شو.

همدا شان د بوډۍ دوهم زوی چې د خپلې مور بې احترامي یې کړې و د هماغه سورغاښي دیو له ځواه په کانې بدل شو. خو د ښځې دریمکړی زوی چې په ریښتیا سره یې د خپلې مور احترام درلود، یوه ورځ یې مور له هغه څخه و غوښتل چې ورته ډوډۍ ورکړي. زوی یې په ځواب کې خپلې مورته وویل: ”موږې دغه ټوله ډوډۍ دې ستا وي او که نور څه دې هم پکار وي راته یې ووایه چې درته را یې وړم.“ مور یې ورځخه ډېره خوشاله شوه او ورته یې وویل:

”کاشکې ستا نور وروڼه هم ستا غوندې د خپلې مور قدر کړی وای.“

کله چې هغه بهر و ووت، جادوګره ښځه بې خبره له دې چې د هغې جادو په ده باندې اثر نکوي، هغه ته راغله او ورته يې په خپل کور کې د ډوډۍ د خوړلو بلنه ورکړه. کله چې هلکی د جادوګرې کور ته وردننه شو، وې کتل چې هلته دوه د کانړو مجسمې هم ولاړې دي. هلکی پوه شو چې دغه مجسمې ضرور د هغه وروڼه دي. کله چې جادوګره ښځه د ډوډۍ د تیارولو په پلمه له کوټې څخه ووته، هلکی سمدستي په الماری کې پټ شو. وروسته بیا سورغابنی دیو کوټې ته ننوتو او ناري يې کړې: ”بوی دی بوی دی آدمیزاده. چیرته پټ يې؟ بوی دی بوی د آدمیزاده...!“

خو هلکی له الماری څخه را ونه ووت. کله چې د دیو شا د الماری طرف ته واووښته، هلکی یو ناڅاپه له آلماری څخه راووت، د دیو له لاسه يې ډانګ واخیست او د هغه په ککره يې وواهه او ورته يې وویل: ”کانی شه“ او سورغابنی دیو فوراً په کانې بدل شو. مهربانه هلکي د همدې ډانګ په وسیله خپل وروڼه بیرته په انسانانو بدل کړل. کله چې درې واړه وروڼه سره یوځای شول د خپل کشري ورور سره په ګډه



کله چې د دیو شا د الماری طرف ته واووښته، هلکی یو ناڅاپه له آلماری څخه راووت.

کورته لاړل او له خپلې مور څخه يې معذرت وغوښت او لوظ يې وکړ چې نور به د خپلې مور بې احترامي نکوي.

شپاړسمه کيسه

ولې د ګيدړې لکۍ سپينه ده؟

وه نه وه يوه زړه بوډۍ وه چې په يوه کلي کې ژوند کاوه او د پسونو يوه رمه يې درلوده. هغې به هره ورځ خپله رمه د څړ له پاره بهر بيوله. له دې کبله چې ښځه ډېره زړه شوې وه او خپله رمه يې په سمه توګه نشوه ساتلای، نو له ځانه سره يې سوچ وکړ چې يو کس پيدا کړي ترڅو د هغې رمه وڅروي.

هغه يوه ورځ سهار وختي د يو کس د موندلو له پاره له کوره ووته. هغه لا له کوره دومره لېرې شوې نه وه چې يوه ايږه د هغې مخې ته راغله. ايږې د ښځې نه تپوس وکړ: ”په

دې وخت کې چېرې روانه يې؟“

”زه يوه رمه لرم. له دې کبله چې ډېره زړه شوې يم نو نشم کولای په يواځې صورت سره د هغو ساتنه وکړم. ځم چې يو کس پيدا کړم ترڅو زما رمه وپايي.“

ايرې وويل: ”زه چمتو يم چې ستا پسونه وپيايم.“

”ډېره ښه خبره ده! خو لومړی زما پسونو ته غږ کړه ترڅو وګورم چې هغوی ستا د آواز په آوربدو سره تاپسې درځي او که نه؟“

ايرې په لوړ آواز سره ناړې کړې: ”ګرو ... ګرو ... ګرو ...“

بوډۍ وويل: ”نه، ستا غږ مې خوښ نه شو.“ هغې خپل مزل ته ادامه ورکړه. په لارې کې له يوه ليوه سره مخامخ شوه. ليوه و پوښتل: ”په دې وخت کې چېرې روانه يې؟“

بوډۍ ځواب ورکړ: ”ځم چې يو کس پيدا کړم چې زما رمه وساتي.“

ليوه وويل: ”زه چمتو يم چې دا کار وکړم.“

بوډۍ وويل: ”ښه ده. خو لومړی ته زما پسونو ته ناړې

کړه، چې آیا هغوی تاپسې درځي که نه؟"

لیوه په لوړ آواز نارې کړې: "هو...هو...هو."

بوډی وویل: "نه، ستا آواز مې خوښ نه شو. ځکه زما پسونه به ستا له غږ څخه ووېرېږي."

بوډی خپل تګ ته ادامه ورکړه چې ناڅاپه يې يوه ګیدړه مخې ته راغله. ګیدړې له هغې څخه پوښتنه وکړه: "په دې وخت کې چېرې روانه يې؟"

بوډی وویل: "ځم چې یو څوک پیدا کړم ترڅو زما پسونه وځروي.

ګیدړې وویل: "زه چمتو یم چې ستا پسونه وڅروووم."

بوډی وویل: "ښه ده. خو اول زما پسونو ته نارې کړه چې په غږ پسې دې ځي که نه؟"

ګیدړې داسې غږ کړ: "...ترالایي...راځئ ګرانو پسونو، زما پسې راځئ..."

بوډی د ګیدړې آواز خوښ کړ او ورته يې وویل: "سمه ده. دې نه پس به زما پسونه څروې."

ګیدړې هر سهار د بوډی رمه د څړ له پاره بیوله او مازیګر

بوډۍ ګیډې ته وویل: ”ای مکاري ګیډې! سیرلي تا خوړل او ما ته دې دوکه راکوله.“

يې بيرته کورته راوستله. يوه ورځ کله چې بوډی خپله رمه شمېرله نو پام يې شو چې د هغې يو سيرلی کم دی. له ګيدړې څخه يې وپوښتل: "سيرلکی چيرې دی؟"

ګيدړې وويل: "يو ليوه راغی او هغه يې راڅخه وخوړ." بله ورځ بيا هم کله چې بوډی خپل پسونه وشميرل، ګوری يو سيرلی نشته. له ګيدړې څخه يې وپوښتل چې سيرلکی چېرې دی؟ ګيدړې وويل: "يوه ايږه راغله او هغه يې وخوړه."

بله ورځ سهار بوډی په خپله څړځای ته لاړه او لږې شودې يې هم له ځانه سره واخيستې. کله چې بوډی څړځای ته ورسېده ګوری چې ګيدړې يو سيرلی رانيولی دی او لګيا ده خوری يې. بوډی ناړې کړې: "ای مکارې ګيدړې! سيرلې تا خوړل او ما ته دې دوکه راکوله." مکارې ګيدړې چې کله بوډی وليده له هغه ځايه وتښتېده. بوډی هغه شودې چې له ځانه سره راوړې وې په ګيدړې ورګذارې کړې. شودې د ګيدړې په لکۍ تويې شوې. خو ګيدړه ونه دريده. له همدې کبله د ګيدړې لکۍ سپينه ده.

PROPERTY OF
BACKUS
16192

اپ مرسی افغانستان